# سرخدونه او اداری تشکیلات

۱ سوال: افغانستان موقیعت تشریخ کړی؟

۱ځواب: افغانستان په شمالی نیمه کره د شمالی عرض البلدونو ۲۹ درجو ۲۲ دقیقو او ۵۳ ثانیو او ۳۸ درجو ۲۹ دقیقو او ۲۸ ثانیو او ختیځه نیمه کره کی د ختیځ طول البلدونو ۶۰ درجو، ۲۸ دقیقو او ۴۱ ثانیو او ۷۴ درجو ، ۵۱ دقیقو او ۴۷ ثانیو تر منځ موقیعت لری.

۲ سوال: د افغانستان مساخت څومره دی؟

۲ ځواب: ۶۵۲۰۰۰ کیلو متره مربع دی

۳سوال: د افغانستان بحر یا سمندر ته څومره فاصله ده؟

۳ځواب:د افغانستان بحر یا سمندر ته ۳۹۰ کیلو متره فاصله ده د هلمند ولایت د کشتګان غر د مزاری د کوتل څخه

۴سوال: د افغانستان څلورخواووی تشریخ کړی؟

۴ځواب: د هیواد په شمال کی د د منځنی اسیا د تاجکستان، ازبکستان، او ترکمستان، له هیوادونو په لویدیځ د ایران له اسلامی جمهوریت او په ختیځ او جنوب کی د پاکستان له اسلامی جمهوریت او په شمال ختیځ کی ۹۲ کیلو متره فاصله د چین هیواد سره ګډه پوله لری.

۵سوال: سرخد تعریف کړی؟

۵ځواب: هغه نقطه چی دوه هیوادونه سره بیلوی.

## شمالی سرخدونه

۶سوال : په ۱۹ پیړۍ کی د کومو دولتونو لخوا د افغانستان زیاتی برخی جلا شوی ؟

۶ځواب: په ۱۹ پیړی کی د انګلیسانو او تزاری روسیی دولتونو لخوا د افغانستان څخه جلا شوی.

۷سوال: د افغانستان شمالی سرحدونه د چا لخوا لاسلیک کیدل یا ټاکل کیدل ؟

۷ځواب: د افغانستان د مخلی خکومتونو د مرکزی اسیا د خانانو لخوا او د ماورالنهرء د امیرانو تر منځ لاسلیک کیدل یا ټاکل کیدل.

۸سوال: انګلسیانو چې [illegible] العمل ښودل؟

۸ځواب:په مرکزی اسیا کی د روسی د پیشرفت څخه په ویره کی شول، امیر شیرعلی خان یی سرخدونو ته وهڅاوه چی له تزاری روسی سره یی وټاکی ، او د بهرنیو چارو وزیر لارد ګرینویل او د روسی د بهرنیو چارو وزیر پرنس ګور چکوف د افغانستان او تزاری روسی تر منځ د سرخدی کرښی د تثبیت لپاره وټاکل شول.

۹سوال: امیرشیرعلی خان شمالی سرخدونو ته چا وهڅاوه؟

۹ځواب:انګلسیانو

۱۰سوال: د امیر شیر علی خان سرخدی کرښه د چا په واسطه لاسلیک او د کوم ځای څخه کوم ځای پوری وه؟

۱۰ځواب: د افغانستان د سفیر په واسطه او د روسیه خارجه چارو وزیر لخوا لاسلیک او د زرکول څخه تر خماب پوری وه د ۱۲۰۰کیلو مترو په اوږدوالی لاسلیک شوه.

۱۱سوال: ۱۹۴۶م کال کی کومه نقطه د سرخد په توګه وټاکل شوه؟

۱۱ځواب: په ۱۹۴۶م کال کی د پنجدی او آموسیندونه د سرخد په توګه وټاکل شو.

## دریجوی سرحدی کرښه

۱۲سوال: ریجوی سرخدی کرښه کوم شخص عوښتل چی لاسلیک کړی؟

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ځواب: امیرعبدالرحمن
۱۳سوال:په څوم کال د دری هیوادونو افعانستان ، انګلستان او روسیه تر منځ پریکړه وشوه چی د ریجوی سرخد د تاکلو لپاره سرخس ته خاضر شی؟
۱۳ځواب: ۱۸۸۹م کال د دری هیوادونو افعانستان ، انګلستان او روسیه تر منځ پریکړه وشوه چی د ریجوی سرخد د تاکلو لپاره سرخس ته خاضر شی.
۱۴:سوال: افعانانو د چا تر مشری لاندی د پنجدی ملاتړ وکړ او دعه ملاتړ د چا په وړاندی وه.
۱۴ځواب: د جنرال عوث الدین تر مشری لاندی د پنجدی ملاتړ وکړ او دعه ملاتړ د روسیانوپه وړاندی وو.
۱۵سوال: په څوم کال کی روسیانو پنجده او اق تپه اشعال کړه؟
۱۵ځواب: په ۱۸۸۵ م کال یی پنجده او اق تپه اشعال کړه.
۱۶سوال : ریجوی سرخدی کربښه د څومره کلونو په موده کی د څومره اوږدوالی په لرلو تثبیت شوه:
۱۶ځواب: ریجوی سرخدی کربښه د خلور کلونوپه موده کی ۵۴۰ کیلو متره په اوږدوالی تثبیت شوه.

## شمال ختیځ سرحدونه

۱۷سوال: د هیواد د شمال ختیځ سرخدات راوپیژنی؟
۱۷ځواب: د هیواد په شمال کی دوه سرحدونه دی ۱ د پامیر سرحدی کربښه د افعانستان او تاجکستان تر منځ ۲ او بله یی د افعانستان او چین تر منځ ده
۱۸سوال:د شمال ختیځ سرخد باندی د کومو هیوادونو لخوا خبری وشی؟
۱۸ځواب: د انګلسیانو، روسانو او افعانستان تر منځ خبری وشوی.
۱۹سوال:انګریزانو د شمال ختیځ سرخدونو د معلومولو سره ولی د لچسپی درلوده؟
۱۹ځواب: څکه هغوی عوښتل چی د خپلو لاندی شوو سیمواو تزاری روسی تر منځ یوه بی طرفه سیمه ولری.
۲۰سوال: د چین سرخدی کربښه د کوم باچا په وخت کی او په کوم کال تثبیت شوه؟
۲۰ځواب: د محمد ظاهر شاه د پاچاهی په وخت کی په ۱۳۴۳هـ ش کال کی تثبیت شوه.

## ختیځ او جنوبی سرحدونه

۲۱سوال: د احمد شاه بابا د واکمنی نه وروسته کومی منطقی د افعانستان څخه بیلی شوی او ولی؟
۲۱ځواب: کشمیر، لاهور، پنجاب، پیښور، اسماعیل دیره او د سدوزیو او محمدزیو د اختلاف په وجی له افغانستان څخه بیلی شوی.
۲۲سوال: په کوم کال د جنرال رابرت په مشری زیاته قوه را داخل شوه او څه یی عوښتل؟
۲۲ځواب: ۱۸۹۳کال باندی هیواد ته را داخل شوه او غوښتل یی د جنرال رابرت سیاسی هییات له یوی عسکری فرقی سره په جلال اباد کی ومنی.
۲۳سوال:ډیورند په کوم کال باندی د ډیورند کربښه په امیر عبدالرخمن باندی په کوم ځای کی امضاء کړه؟
۲۳ځواب:په ۱۸۹۳کال په چهلستون مانی کی لاسلیک کړه.
۲۴سوال: د دیورند کربښه په کوم کال او چیرته اوږدوالی یی د کوم ځای څخه تر کوم ځای پوری دی او کومی سیمی ددی په ذریعه بیلی شوی؟
۲۴ځواب: ډیورند کربښه د کلیک د کوتل څخه ، د واخجیر کوتل ، واخان ، او چترال په جنوب حتیځ کی د بلوچستان او ملک سیاه ترغره پوری د هیواد په جنوب لویدیځه زاویه کی د ۱۹۲۰ کیلو مترو په اوږدوالی وټاکل شوه. او د چمن ، پښین، وزیرستان ، کرم ، پاړه ، چنار، افریدی ، باجوړ ، سوات او چترال منطقی له افغانستان څخه بیلی شوی.
۲۵سوال: انګریزانو په کال کی څومره پیسی امیرعبدالرخمن ته ورکولی او د تړون وروسته څوته لوړی شوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۵ځواب:انګریزانو په کال کی امیرعبدالرحمن ته ۱۲۰۰۰۰۰پیسی ورکولی او د ترون نه وروسته یی ۶۰۰۰۰۰ ورزیاتی کړی.

## لویدیځ سرحدونه

۲۶سوال: په لویدیځ کی څو سرخدونه موجود دی؟
۲۶ځواب: په لویدیځ کی دوه سرخدونه موجود دی ۱ : مکمهان۲: فخری سرخدونه دی.
۲۷سوال: امیر شیرعلی خان په وخت کی کومی قبیلی د ایران تابعیت ومانه؟
۲۷ځواب: امیرشیر علی خان د واکمنی په وخت کی د سربند د قبیلی مشر غلی خان په نوم له خپلی قبیلی سره د ایران تابعیت ومانه او ځان یی د خپلی قبیلی سره د ایران دولت ته تسلیم کړ. ه.
۲۸سوال: د کوم حکومت څخه افغانستان عوښتنه وکړه چی د دوی تر مینځ سرخد وټاکی؟
۲۸ځواب: د هند وایسرا څخه یی غوښتنه وکړه.
۲۹سوال: په ۱۲۷۴کال کی بیا د مکمهان کرښی په باره کی کوم مشکلات پیدا شو؟
۲۹ځواب: څرنګه چی نوموړی نقطه د هلمند د سیند پر اساس په نښه شوی وه ، او د ځمکی پر اساس نه وه په نښه شوی ، نو له همدی امله د هلمند د سیند د مسیر د تعیرله کبله بیا مشکلات پیدا شوه.
۳۰سوال: انګریزانو د چا تر مشری لاندی د سرخدی کرښی د معلومولو لپاره هییات راولیږه؟
۳۰ځواب:د ګولد سمیت تر مشری لاندی.
۳۱سوال: مکمهان هییات څو کاله په دی خبری وکړی او د چا د واکمنی په وخت کی یی دا کرښه تعین کړه او د کوم ځای نه کوم ځای پوری وه؟
۳۱ځواب: نوموړی هییات ۲ کاله او ۳ میاشتی په دی باندی خبری وکړی او د امیر خبیب الله خان په وخت کی یی دا کرښه تعین کړه ، او دا کرښه د ملک سیاه له عره څخه تر سیاه کوه پوری وه.
۳۲سوال: فخری سرخدی کرښه د چا په واسطه د کوم ځای څخه تر کوم ځای پوری وه؟
۳۲ځواب: د امیر عبدالرخمن په واسطه سیاه کوه څخه تر ذوالفقار دری پوری وه.
۳۳سوال:د فخری سرخدی کرښه د کوم هییات پواسطه تعین شوه؟
۳۳ځواب: دا کرښه د ترکیی هییات لخوا چی جنرال فخرالدین التایی نومیده په واسطه تعین شوه.
۳۴سوال:د فخری کرښی څومره اندازه د ځمکی پر مخ او څومره یی د هریرود د سیند پواسطه ښودل شوی ده؟
۳۴ځواب: د سیاه کوه څخه تر اسلام قلعه پوری د ځمکی پر مخ او د اسلام قلعه څخه تر ذوالفقار دری پوری د هریرود د سیند پواسطه ښودل شوی ده.

## اداری تشکیلات

۳۵سوال:د امان الله خان د وخت اداری تشکیلات کوم دی؟
۳۵ځواب: پنځه ولایتونه و او څلور اعلی حکمتونه وو. لکه مشرقی سمت، جنوبی سمت، میمنه او فراه څخه عبارت دی او ولایتونه کابل ، کندهار ، هرات، ترکستان،او قطغن،
۳۶سوال: د امان الله خان وخت اداری تشکلات کومی ستونزی لرلی ولیکی؟
۳۶ځواب: لاري ډیری اوږدی وی ، عرونه ، پراخی او سوځونکی دښتی وی او د حمل نقل ستونزی وی.
۳۷سوال:په کوم کال کی زموږ هیواد په ۲۹اداری واخدونو یا ولایتونو باندی وویشل شو؟
۳۷ځواب:په ۱۳۴۳لمریز کال کی زموږ هیواد په ۲۹ واخدونو یا ولایتونو باندی وویشل شو.
۳۸سوال: د ولایت ټولی خواوی د چا لخو اداره کیدی؟
۳۸ځواب: د ولایت ټولی خواوی د والی لخوا اداره کیدی.
۳۹سوال:۱۳۷۰کال کی هیواد په څو ولایتونو وویشل شو؟
۳۹ځواب: په ۳۲ ولایتونو وویشل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۰سوال: په دی وروستیو کلونو کی زموږ هیواد په څو ولایتونو او څو ولسوالیو وویشل شو؟
۴۰ځواب: په دی وروستیو کلونو کی زموږ هیواد په ۳۴ ولایتونو او ۳۶۴ ولسوالیو باندی ویشل شو.

## د هیواد په پرمختیا کی د نفوسو اهمیت

۴۱سوال: نفوس تغریف کړی؟
۴۱ځواب: نفوس د هیواد له ټولو اوسیدونکو څخه عبارت دی.
۴۲سوال: کوم لاملونه د نفوسو په تمرکز باندی اغیزه کوی؟
۴۲ځواب: اقلیمی شریط ، د ځمکی د جوړښت شرایط ، او نور اقتصادی ، بشری او سیاسی لاملونه د نفوسو په تمرکز باندی اغیزه لری.
۴۳سوال: د پورتنیو لاملونو په نظر کی نیولو سره د زراعت له نظره کومی سیمی ګڼ نفوس لری؟
۴۳ځواب: حاصلخیزی سیمی لکه ننګرهار، لوګر، کاپیسا ، لغمان ، او پروان کی په زیات شمیر نفوس ځای په ځای شوی دی.
۴۴سوال: څو فیصده خلک په کلیو او څو فیصده په ښارونو کی اوسیږی؟
۴۴ځواب: ۸۰سلنه خلک په کلیو او ۲۰ سلنه خلک په ښارونو کی اوسیږی .
۴۵سوال: د سیاسی بدلونونو له مخی زیات شمیر خلک په کومو ښارونو کی اوسیږی؟
۴۵ځواب: په کابل ، جلال اباد ، مزار شریف ، هرات او داسی نورو ښارونو کی زیاته اندازه نفوس اوسیږی.
۴۶سوال: د اقتصادی او صنعتی لاملونو له مخی د هیواد زیات خلک په کومو سیمو کی اوسیږی؟
۴۶ځواب: د اقتصادی او صنعتی لاملونو له مخی د هیواد زیات شمیر خلک په صنعتی مرکزونو کی ژوند کوی لکه د پلخمری د نساجی فابریکی د بغلان د قند فابریکی.
۴۷سوال: د کرنیزو پروژو له مخی زموږ هیوادوال په کومو سیمو کی اوسیږی؟
۴۷ځواب: چیرته چی زیات شمیر خلک او اوبه وی لکه د هدی او غازی اباد فارمونه ، د هلمند او نادعلی کرنیزی پروژی او داسی نور
۴۸سوال: د سوداګریزو بندونو په اساس زمونږ هیوادوال په کومو سیمو کی اوسیږی؟
۴۸ځواب: په طورخم ، اسلام قلعه ، حیرتان او سپین بولدک کی اوسیږی.

## احصایه او د نفوسو جغرافیایی ویش

۴۹سوال:هغه سندونو نومونه واخلی چی د نفوسو په ګڼوالی کی رول لوبوی؟
۴۹ځواب: پنجشیر ، الشنګ ، الینګار ، کونړ ، د هریرود سیند او د اموسیند ساحل زیات نفوس د نفوسو د ګڼوالی باعث ګرځی .
۵۰سوال: هلمند سیند څه اهمیت لری؟
۵۰ځواب: د انرژی تولیدلو ، او په اقتصادی او کرنیزو برخو کی اهمیت لری.
۵۱سوال:د کابل د سیند مرستیالان کوم دی؟
۵۱ځواب: د کابل سیند مرستیالان لوګر،لغمان پنجشیر ، کونړ
۵۲سوال:هغه سیمی چی۱۰۰۰متره لوړوالی لری د نفوسو تمرکز یی څه ډول دی؟
۵۲ځواب: نفوسو تمرکز یی په کرنه یا زیاتره خلک په کرنه بوخت دی.

## د نفوسو وده او منځنی عمر

۵۳سوال: د مخ پر ودی هیوادونو د نفوسو وده د کومو مقرراتو تابع ده؟
۵۳ځواب: د مخ پر ودی هیوادونو د نفوسو وده د تولنیزو، مذهبی ، او اقتصادی مقرراتو تابع دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۴سوال: په افغانستان کی د نفوسو عادی وده د څو نه تر څو پوری ده؟
۵۴ځواب: په افغانستان کی د نفوسو عادی وده ۲,۵څخه تر ۳ سلنه محاسبه شوی دی.
۵۵سوال:د لومړی ځل لپاره په افغانستان کی اټکلی ارقام په کوم کال کی خپاره او ټول نفوس یی څومره وو؟
۵۵ځواب:د لومړی ځل لپاره په افغانستان کی ۱۳۱۵ لمریز کال کی خپاره شول او ټول نفوس یی په دغه کال کی لس میلیونه او اویازره ښودل شوی دی.
۵۶سوال:د افغانستان د پلان وزارت د ۱۳۲۹ ه ش کال کی نفوس څومره وو؟
۵۶ځواب: د افغانستان پلان وزارت د ۱۳۲۹ه ش کال کی د نفوس ۱۲ میلیونه اټکل کړی دی.
۵۷سوال: د نفوسو لومړی څیړنه په څوم کال او چیرته وشوه؟
۵۷ځواب:۱۳۳۲لمریز کال کی د هیواد په پلازمینه کابل ښار کی د روعتیا د نړیوالی موسسی له خوا سرته ورسیده
۵۸سوال:بشپړه سر شمیرنه په کوم کال او څه وخت شروع او په کوم وحت کی حتمه شوه؟
۵۸ځواب: ۱۳۵۸کال کی د جوزا د میاشتی په ۲۵پیل او د چنګاښ په ۱۴ پای ته ورسیده.
۵۹سوال د۱۳۵۹ کال کی د اخصایه له مخی د افغانستان نفوس څومره وو او ددی جملی څخه دایمی استوګن څومره او کوچیان څومره ووپه کلیو کی څو سلنه او په ښارونو کی څو سلنه و؟
۵۹ځواب: ۱۳۵۹کال کی د اخصایه له مخی د افغانستان نفوس ۱۵,۹۴ میلیونه اټکل شوی چی د هغو له جملی څخه ۱۳,۴ میلیونه تنه دایمی استوګن ۲,۵۶ میلیونه تنه نور کوچیان او ۸۴,۶ سلنه په کلیو کی او ۱۵. ۴ سلنه په ښارونو کی اوسیدل.
۶۰سوال:د افغانستان نفوس د کومو مقراراتو او یا مطالبو له مخی ارزول کیږي؟
۶۰ځواب: د افغانستان نفوس د عمر او جنس له مخی ارزول کیږی.
۶۱سوال:د افغانستان نفوس په کوم کال د جنس له مخی مطالعه شو؟
۶۱ځواب: د افغانستان نفوس په ۱۳۸۳کال د جنس له مخی مطالعه شو.
۶۲ سوال:افغانستان ټول نفوس په کومو فیصدو اټکل شوی؟
۶۲ځواب: د صفر څخه تر ۱۵کلنی پوری٪ ۴۴ او د ۱۵کلنی څخه تر ۶۰ کلنی پوری ۹،۵۲ او د ۶۵کلنی څخه پورته ٪۲، ۶ اټکل شوی.
۶۳سوال:فعاله اقتصادی نفوس د څو کلنی نه تر څو کلنی پوری او غیری فعاله اقتصادی نفوس د څو کلنی نه تر څو کلنی پوری؟
۶۳ځواب: ۱۵څخه تر ۶۵کلنی پوری فعاله دی چی ددی جملی څخه ٪۸۰د کرنی او مالداری باندی بوخت دی او پاتی نور یی په صنایعو ، کانونو ، او ټولنیزو حدمتونو بوخت دی او غیری فعاله اقتصدی نفوس د ۶۵کلنی پورته دی.

## په هیواد کی قومی جوړښت او د قومونو جغرافیایی ویش په څه ډول دي.

۶۴سوال:په افغانستان یی د ساکینو قومونو جغراقیایی ویش په څه ډول دی؟
۶۴ځواب: د افغانستان او سیدونکی یا اتباع د تاریخی عنعناتو او د اساسی قانون له مخی ټول افغانان دی.
۶۵سوال: پښتانه دافغانستان په کوموسیموکی اوسیږی؟
۶۵ځواب: پښتانه په ټول افغانستان کی استوګن دی خو زیات یی په ختیځ په کابل او د کابل په ګاونډیو ولایتونو په جنوب ، جنوب ختیځ ، ختیځ او جنوب لویدیځ کی په ګڼه توګه ژوند کوی.
۶۶سوال: تاجک د افغانستان په کومو برخو کی اوسیږی؟
۶۶ځواب:د هیواد په شمال کی له بدخشان څخه تر هرات او د هندوکش په جنوب کی له پروان څخه تر کابله پوری ژوند کوی اوپه عمومی توګه په دری خبری کوی.
۶۷سوال: ازبک او ترکمن د هیواد په کومو سیموکی ژوندکوي؟
۶۷ځواب: د هیواد په شمال او شمال لویدیځ کی ژوند کو ی

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶۸سوال: هزاره د هیواد په کومو سیمو کی ژوند کوی ؟
۶۸ځواب: په بامیانو او مرکزی لوړو سطخو کی ژوند کوی.
۶۹سوال: بلوڅان د هیواد په کومو سیمو کی ژوند کوی؟
۶۹ځواب: د کندهار په جنوب او چخانسور کی ژوند کوی.
۷۰سوال: نورستانیان د هیواد په کومو سیمو کی ژوند کوی؟
۷۰ځواب: نورستانیان د په نورستان کی ژوند کوی.

## داخلی او خارجی مهاجرتونه او د نفوسو ځای پر ځای کیدل

۷۱سوال:مهاجرتونه په څو ډوله دي؟
۷۱خواب:مهاجرتونه په دری ډوله دی ۱ سیاسی ۲اقتصادی ۳ تاریخی مهاجرتونه دی
۷۲سوال:سیاسی مهاجرتونه څه وخت کیږی؟
۷۲ځواب: هغه وخت کیږی چی عقیدوی او فکری ازادی وجود ونه لری.
۷۳سوال:اقتصادی مهاجرتونه کومو سیمو نه کومو سیمو ته کیږی؟
۷۳ځواب: د کلیو او باندو څخه عتو ښارونو لکه کندهار، هرات، ننگرهار ، کابل او نورو ته کیږی.
۷۴سوال:د تاریخی مهاجرتونو بیلگی ولیکۍ؟
۷۴ځواب: ۱ د اریایانو مهاجرت د بلخ څخه تر هند او فارس پوری ۲: په ۱۳۴۹کال کی د وچکالی له امله زمونږ هیوادوالو کورونه پریښودل او اړ شو چی د بادعیس ارزگان لوړی برخی په کی راځی.
۷۵سوال: د مهاجرتونو مثبتی اعیزی ولیکی؟
۷۵خواب:د خپل فرهنگ لیږدول او د نورو د فرهنگونو سره اشنایی د خپلی ژبی رواجول ، د نوی تکنالوجی سره بلدتیا ، په پایله کی هر مدنیت د یو مهاجرت زیږدنه ده.
۷۶سوال:د مهاجرتونو منفی اعیزی ولیکی ؟
۷۹ځواب: دفعال اقتصادی نفوس له لاسه ورکول، د پوهانو او ماهرو خلکو له لاسه ورکول ، په Hiv د پوستکی په ناروعی اخته کیدل ، باندنی هیوادونو ته د سرمایه لیږدول.

## دیـــــــــــــن

۸۰سوال: اریایانو څه قسم دین درلوده او څه یی مقدس شمیرل؟
۸۰ځواب: اریایانو ساده دین درلوده او هغه څه یی مقدس شمیرل چی د دوی په ژوند به یی اثر غورځاوه ، لکه بادونه ، زلزله اوداسی نور
۸۱سوال: د افغانستان خلکو مخکی د اسلام نه زاړه دینونه کوم و؟
۸۱ځواب: زردشتی ، بودایی، او لږ څه اسمانی دینونه لکه یهودیت ، مسیخیت.
۸۲سوال: ۲۰۶کاله د میلاده پخوا اشوکا کوم دین ته حدمت وکړاو څو کاله یی دوام وکړ؟
۸۲ځواب: اشوکا بودایی دین ته حدمت وکړ او ۱۰۰۰کاله یی دوام وکړ.
۸۳سوال:د افغانستان خلک د کومو لاملونو د وجی د اسلام قبلولو ته چمتو و؟
۸۳ځواب: په ټول افغانستان کی ځانگړی دین نه و، چی په ټول افغانستان کی رواج ولری.
۸۴سوال: په کوم هجری کال د چا پواسطه د خضر ت عثمان رض د حلافت په وخت په افغانستان کی اسلامی فتوحاتو پرمختگ وکړ؟
۸۴ځواب: په ۲۵ق کال کی د احنف بن قیس پواسطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۵سوال: دریم حلیفه عثمان رض د ابو موسی اشعری رض په ځای څوک مقرر کړ او هم واضح کړی چی اسلامی خلافت د چا پواسطه تر حتیځه پوری وغځول شو او کومی سیمی یی تر خپل واک لاندی راوستی؟
۸۵ځواب: عثمان رض او ابو موسی اشعری رض په ځای عبدالله بن عامربن کریز رض چی ۲۵ کلن ځوان و وتاکه، او اسلامی خلافت یی تر ختنځه پوری ورساوه ، هغه سرخس ، تالقان ، کندهار او عزنی فتحه کړ او اسلام یی هلته خپور کړ.
۸۶سوال: د افغانستان خلک څو فیصده د اسلام پیروان دی؟
۸۶ځواب: ٪۹۹،۶ د اسلام د دین پیروان دی.
۸۷سوال: هندوان او سیکان د افغانستان په کومو سیمو کی اوسیږی؟
۸۷ځواب: په کابل ، جلال اباد، کندهار، چاریکار ، ګردیز او داسی نور
۸۸سوال: کومو خلکو په افغانستان کی د اسلام په خپریدلو  کی نقش درلوده؟
۸۸ځواب: اخنف بن قیس ، عبدالله بن عامر او موسی بن اشعری

## ژبــــــــــه

۸۹سوال: د افغانستان زیاتره خلک په کومو ژبو خبری کوی ؟
۸۹ځواب: زیاتره په پښتو او دری ژبو باندی خبری کوی .
۹۰سوال: اندو اروپایی ژبی په څو برخو ویشل شویدی؟
۹۰ځواب: اندو اروپایی ژبه په دوو اریایی ژبو اریایی او هندی باندی ویشل شویدی.
۹۱سوال: اریایی ژبه کی کومی ژبی شاملی دی او په هندی ژبه کی کومی ژبی شاملی دی؟
۹۱ځواب: د اریایی ژبی مشهوری ژبی عبارت دی له : پښتو اورمړی ، پامیری ، دری ، بلوڅ ، علچه یی یا عرنی ژ بی شاملی دی . او په هندی ژبه کی ګوربتي کلشه یی تیرایی سندی او پنجابی شاملی دی.
۹۲سوال: ریودا ژبه چی د اریایی هندی ګروپ تر منځ یوه ځانګه ده په دی کی کومی ژبی شاملی دی؟
۹۲ځواب: کتی ،بشکلي وایګلی ، پرسینی ، اشکوني ، پشه یی ، پراچي او نورستاني شاملی دی.
۹۳سوال: عیری د اریایی او  هندی ژبو څخه نوری کومی ژبی په افغانستان کی شته؟
۹۳ځواب: ازبکی ، ترکمنی ، قرعزی ، قزاقی
۹۴سوال: په پښتو ژبه د کومو سیمو خلک خبری کوی او په دری ، ازبکی ، ترکمنی ، او پراچی ژبه د کومو سیموو خلک خبری کوی؟
۹۴ځواب:د پښتو ژبی ویونکی تقریبا په ټول هیواد کی استوګن دی ، خو زیات پښتانه د افغانستان په ختیځو ، او جنوبی او جنوب حتیځ سیمو کی استوګنه کوی اودری ژبه د هیواد د پخوانیو ژبو څخه ده ، او د هیواد زیات شمیر حلک په مختلفو لهجو په د ی ژبه خبری کوی. ازبکی د هیواد په شمالی ولایتونو کی او ترکمنی د هیواد په شمال او شمال لویدیځ کی تر د هرات ولایته پوری او بلڅی د هلمند ، ګودزیری و صابری ، هامون ، او د هیواد لویدیځ سرخدونو خلک پري خبری کوی او پراچی د نجراب یوه دره ده چی د تګاب د اله سای سره نښتی ده پری خبری کوی.
۹۵سوال: په مونجی . کته وایګلی ، او اورمړی ژبه باندی د کومی سیمی خبری کوی؟
۹۵ځواب: په منجی ژبه د بدخشان په منجان ، کته وایګلی په نورستان او اورمړی په لوګر ، براهوی او چخانسور سیمه کی شته.
۹۶سوال: اهل هنود په کومو ژبو خبری کوی؟
۹۶ځواب: په سندی ، لهندا، او پنجابی ژبو باندی اهل هنود خبری کوی.
۹۷سوال: اوس کومی ژبی زمونږ په هیواد کی له منځه تللی دی؟
۹۷ځواب: معلی او آذری ژبی اوس له منځه تللی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مواصلاتو اهمیت

۹۸سوال :موصولاتی لاری د تولنی او هیواد لپاره څه اهمیت لری؟
۹۸ځواب: موصولاتی لاری ټولنی او د هیواد د اقتصادی، ټولنیزو ، او په پای کی سیاسی کلتوری او اداری پرمختګ بنسټ ګڼل کیږی.
۹۹سوال: ځمکنی موصولاتی لاری او هوایی سکترونه زمونږ د هیواد افغانستان لپاره ولی د اهمیت وړ دی؟
۹۹ځواب ددی موصولاتی شبکی پرته هر اړخیزه اقتصادیی ، او ټولنیزه وده ممکنه نه ده.
۱۰۰سوال: د مخ پر ودی هیوادونو اقتصادی او صنعتی پرمختګ څه شی پوری تړلی دی؟
۱۰۰ځواب د موصلاتی لارو او ترانسپورټ پوری تړلی دی.
۱۰۱سوال: د موصولاتی لارو جوړول او عصری کول څه فایده لری؟
۱۰۱ځواب: سیمی او ښارونه یو د بل سره نښلوی ، اومه او انرژیکی تولیدونکی مواد صنعتی مرکزونو ته په لنډه موده کی رسوی.
۱۰۲سوال: زمونږ د هیواد پخوانیو پنځه کلنو پلانونو زیاته بودیجه څه ته ځانګړی شوی ده؟
۱۰۲ځواب: د موټرو ، د سړکونو د جوړولو لپاره او ترانسپورتی وسایلو لپاره ځانګړی شوی ده.
۱۰۳سوال:د موصولاتو د اقتصادی اهمیت یو څو نمونی ولیکی؟
۱۰۳ځواب: د سون موادو په لګښت کی سپما ، بیلابیل قومونه د یو بل دود او دستور څخه خبریږی ، د هیواد ملی یووالی تامینیږی ، او د منظمو ترانسپورتی لارو څخه د کتی اخیستنی په سبب بازار کی د کالیو بیه کمیږی.
۱۰۴سوال: د توکیو جاپان په کنفرانس کی د لویو لارو په هکله څه پریکړه وشوه؟
۱۰۴خواب: د توکیو جاپان په کنفرانس کی د هیواد د لویو لارو جوړولو او پراختیا لپاره د اقتصادی زیربنا په توګه د لومړیتوب حق ورکړل شو.

# ځمکنی حمل او نقل

۱۰۵سوال: د حمل او نقل د یو منظم موصولاتی سیستم شتون د یو هیواد لپاره څه ګټی لری؟
۱۰۵ځواب: د ټولنیزو او اقتصادی پرمختیا بنسټ جوړوی او په یو هیواد کی د ټولنیز او اقتصادی یووالی د رامنځته کیدو سبب ګرځی ، او د خدمتی موادو لپاره اسانتیا جوړوی.
۱۰۶سوال: افغانستان د جغرافیایی موقیعت له کبله په نړی کی څه اهمیت لری؟
۱۰۶ځواب: منځنی اسیا په جنوب کی د افعانستان جغرافیی موقعیت په پام کی نیولو سره د تاریخ د ډیری پخوا دوری څخه د یوی اوږدی مودی لپاره د ختیځ او لویدیځ او د شمال او سویل تر منځ د سوداګری اړیکو په تامین کی ډیر اهمیت لری.
۱۰۷سوال: بلخ د کومو هیوادو د کالیو د تبادلی مرکز و او هم ولیکی چی ۱۳۰۸هجری لمریز کال کی مسافرتونه په څه شکل سرته رسیده؟
۱۰۷ځواب: د بلخ ښار د لویدیځ (اروپایی) او ختیځ ( هندی او چنایی) کالیو د تبادلی مرکز و ، او په ۱۳۰۸کال مسافرتونه په پلی ډول سرته رسیده ، او تګ او راتګ د حیواناتو په مرسته کیده.
۱۰۸سوال: په افغانستان کی د درباریانو لخوا په کوم کال باندی د موټرو شرکت جوړ شو او د کوم ځای څخه یی د کومی کمپنی موټر وارد کړه؟
۱۰۸ځواب: په ۱۹۰۹م کال کی د امیر حبیب الله خان په دوره کی د لومړی ځل لپاره موټرونه د دملر له کمپنی څخه په ممبیی کی وپیردل شول او په کابل کی په کار واچول شول.
۱۰۹سوال: د کوم واکمن په وخت کی د کاروانونو لپاره لاری ترمیم شوی ، د موټرو لأره سرکونه جوړ شول او په کومو ځایونو کی کاروان سرایونه جوړشول او د کوم ځای څخه ترکوم ځای پوری رباطونه جوړ ، او د یو رباط څخه تر بل رباط پوری فاصله څومره وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰۹ځواب: د امیر خبیب الله خان په وخت کی د کاروانونو د تګ راتګ لاری ترمیم شوی، د موټرونو لپاره نوی سرکونه جوړ شول، د ټول هیواد په ښارونو کی کاروان سرایونه د سراجیه رباطونو په خلکو ودان شول ، د دوه رباطنو تر منځ واټن ۶کروه ( تقریبا ۱۸کیلو متره) و،

۱۱۰سوال: ځمکنیو موصولاتو ته په کوم وخت کی زیاته پاملرنه وشوه؟

۱۱۰ځواب: د امانیه په دوره کی ورته زیاته پاملرنه وشوه.

۱۱۱سوال: هغه ستونزی ولیکی چی د ځمکنیو ترانسپورتی لارو د جوړولو او پراختیا په مخ کی شته؟

۱۱۱خواب: د هیواد طبیعی جوړښت او غرنی بڼه د عرنی او دښتی سیمو بیل اقلیم د عصری وسایلو، فنی پرسونل او پوره پانګی نشتوالی.

# څو دوله ترانسپورتی وسایل پیژنی

۱۱۲سوال: د ځمکنی ترانسپورت اصطلاح کومو وسایلو ته ویل کیږی نومونه یی ولیکی؟

۱۱۲ځواب هغو وسایلو ته ویل کیږی چی د ځمکی د وچی برخی له پاسه خرکت کوی ، لکه : بایسکل ، د بارولو خیوانات، موټر سایکل ، اورګاړی اوداسی نور

۱۱۳سوال: د ترانسپورتی وسایلو ګټی واضخ کړی؟

۱۱۳ځواب: ددعی وسایلو پواسطه د سیمو او هیوادونو تر منځ واټن لنډیږی ، او هغه واټن سفرونه چی په اونیو کی نه تر سره کیده هغه اوس په ساعتونو کی تر سره کیږی او په دی باندی درانه تجارتی مالونه د لیږدیدو توان لری.

۱۱۴سوال: د لومړی ځل لپاره بایسکل د چا لخوا کشف شو، ددی وسیلی اهمیت په څه کی دی؟

۱۱۴ځواب: یو انګلسی پوه کنت دوسواک په ۱۷۹۰م کال کی کشف کړ ، او اهمیت یی دادی چی د سون مواد نه مصرفوی، او چاپیریال نه ککړوی.

۱۱۵سوال: د اتلسمی میلادی پیړی په دویمه نیمایی کی چا د انتقالولو وسیله جوړه کړه ،او څه نواقص یی درلوده؟

۱۱۵ځواب: د اتلسمی میلادی پیړی په دویمه نیمایی کی سمنګټن د انتقالولو وسیله جوړه کړه خو د ډیرو سکارو د سوزولو له امله یی زیات لوګی کاوه ، او د تخنیکی نیګرتیا له کبله یی زیات ټکرونه کول.

۱۱۶سوال: افغانستان ته لومړی موټر د چا لخوا کوم امیر ته په کوم کال ډالی شویدی او نوموړی موټر په څه شی خرکت کاوه؟

۱۱۶ځواب: کله چی مستردین د برتانوی هند د خارجه چارو وزارت سکرتر په ۱۹۰۴م کال په ډسمبر کی کابل ته سفر کاوه د نورو سوغاتونو تر څنګ یی یوه عراده موټر هم امیر حبیب الله خان ته ډالی کړ چی۷۰۰ سټرلنګ پونډه ارزښت یی درلوده په هغه موټر کی د تیلو پر ځای لرګی سوځیده او ماشین ته یی حرکت ورکاوه.

۱۱۷سوال: الومړنی کوچنی اورګاړي د چا په وخت په کوم کال او د څه لپاره افغانستان ته وارد شوی و، او تر کوم کاله پوری یی فعالیت کاوه؟

۱۱۷ځواب: د شاه امان الله خان په دوره کی په ۱۳۰۵ کال کی د تعمیراتی موادو د وړلو راوړلو او د کارګرو د انتقال لپاره وارد شو او تر ۱۳۰۷ کله پوری فعاله وه.

۱۱۸سوال: د بریښنایی بسونوګټی څه دی ولیکی؟

۱۱۸ځواب: دبریښنایی بسونو لګښت کم او چاپیریال نه ککړوی.

# د افغانستان د لویو لارو په هکله څه پوهیږی

۱۱۹سوال: هغه هیوادونه چی لویی لاری یی لږی پرمختللی دی د کومو ستونزو سره مخامخ دی؟

۱۱۹ځواب: هغه هیوادونه چی لوی لاری یی لږی پرمختللی وی په واقیعت کی په هغه هیواد کی د ټولنیزه او اقتصادی وده په ټپه دریدلی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په اقتصادی برخو لکه صنعتی تولیدات، کرنیز مخصولات په بازار کی پیرودل او پلورل ، مسافرتونه او گرځیدنه ، تلل او راتلل او د داسی نورو ستونزو سره مخ کیږی.
۱۲۰سوال: ددی لپاره چی زمونږ هیواد د اقتصاد او تولنیز فعالیت له امله ارزښتمن خوځښت ولری څه باید وکړی؟
۱۲۰ځواب: باید د هیواد دننه د ټولو ولایتونو ، ولسوالیو او کلیو تر منځ او له هیواد څخه د باندی گاونډیو هیوادونو سره سیاسی او اقتصادی اړیکی ټینگی کړو نو اړین بریښی چی مواصلاتی برخی ته یی ځانگړی پاملرنه وشی. په هغه ۳ پنځه کلنو پلانونو کی چی ٪۵۰ بودیجه لویو لارو باندی ولگیده.
۱۲۱سوال: دا پلانونه د کومو کلونو نه تر کومو کلنو پوری و، او هم واضح کړی چی په پورتنیو روپیو څومره سړک قیراو کنکریټ شو؟
۱۲۱ځواب: د ۱۳۳۱- ۱۳۳۵-۱۳۳۶-۱۳۴۰-۱۳۴۱او ۱۳۴۱نه تر ۱۳۴۵کلونو پوری و، او د ۲۵۰۰کیلو مترو څخه زیات سړک قیر او کنکریټ شو.
۱۲۲سوال: لوی لاری په څو برخو ویشل شویدی نومونه یی ولیکی او همدارنگه هر یو تعریف هم کړی؟
۱۲۲ځواب: لویی لاری په دوو برخو ویشل شویدی، ۱ حلقوی لویی لاری ۲ پریکړل شوی لوی لاری حلقوی لویی لاری : هغه لاری دی چی په هغی باندی تراتیک د یوی نقطی څخه پیل او له یو دورانی خرکت څخه د نامنظمی دایری په ډول د پیل له نقطی سره نښلی.
بیلی او پکړل شوی لاری : چی له حلقوی لویو لارو څخه جلا شوی دی لکه د کابل حوست لویه لاره.
۱۲۳سوال: د هیواد شمالی لویی لاری څه کتی لری؟
۱۲۳ځواب: مرکزی ولایتونه مستقیما له شمالی ولایتونو سره نښلوی دی لاری د هیواد شمالی سیمی د مرکزی او جنوبی سیمو سره نښلولی ، ددی لاری په جوړولو سره د پخوانی لاری په نسبت ۲۰۰کیلو متره لنډه شوی او ددی پواسطه ترانسپورتی لگښتونه او استهلاک کمیږی همدارنگه د فابریکو د تولیداتو د ضایع کیدو مخه نیسی او ژر یی بازار ته رسوی.

## دکابل تورخم لویه لاره

۱۲۴سوال: د کابل تورخم لویه لاره څه اهمیت لری او هم ولیکی چی دکوم بندر له لاری د هنر د سمندر سره تړل کیږی؟
۱۲۴ځواب: دغه لویه لار د تورخم له لاری د پیښور سره نښتی ده او له هغی وروسته د اوسپنی د کرښی او قیر شوی لوی لاری پواسطه د کراچی له بندر او له هغی لاری د هند د سمندر او یو د نړیوالی لاری سره نښلوی.
دغه لویه لاره د فرعی قیر شوو لویو لارو پواسطه د کنړ ، لغمان او نور ستان ولایتونو او د ننگرهار او ولسوالیو سره نښتی ده.

## کابل کندهار لویه لاره

۱۲۵سوال: کابل کندهار لویه لاره دا لاره څو ولایتونه سره نښلوی او د هیواد کوم بندر د خارج سره تړی؟
۱۲۵ځواب: دا لاره کابل وردگ ، وردگ غزنی زابل او زابل کندهار ولایتونه سره نښلوی او کراچی او گوارد و عرب سمندرگی په غاړه پروت دی له بند رونهو سره نښلوی

## د کندهار هرات تور غونډی لویه لاره

۱۲۶سوال: د کندهار هرات تور غونډی لویه لاره ددی لاری لومړی جوړښت څه قسم وو او د هیواد د کومو خارجی دولتونو سره نښلوی؟
۱۲۶ځواب: ددی لاری لومړی جوړښت ډیر عصری او کانکریتی ډول جوړشوی وو او زمونږ هیواد ترکمنستان او ایران له اسلامی جمهوریت سره نښلوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دهرات اسلام قلعه لویه لاره

۱۲۷سوال: هرات اسلام قلعه لویه لاره دغه لار په سوداګری کی څه اهمیت لری او اوږدوالی څومره دی؟
۱۲۷ځواب: ددی لویی لاره اوږدوالی ۱۲۴ کیلو متره دی او د هرات ښار د اسلام قلعه له بندر سره چی له ایران سره د افغانستان په سرخد کی پروت دی نښلوی دعه لویه لار له ایران، ترکیی ، او نورو اروپایی هیوادونو سره په سوداګری کی زیات اهمیت لری.

## د پلخمری، شبرعان لویه لاره

۱۲۸سوال: د پلخمری ، شبرعان لویه لار دعه لار د هیواد کوم ولایتونه سره نښلوی او هیواد نورو کومو هیوادونو سره بندرونو په واسطه تړی؟
۱۲۸ځواب: دعه لار د هیواد شمالی ولایتونه لکه بعلان، سمنګان، بلخ ، جوزجان ، فاریاب ، یوله بل سره نښلوی او هیواد د حیرتان ، کلفت او اندخوی اقینی له بندر سره نښلولی.

## د کابل حوست لویه لاره

۱۲۹سوال: د کابل حوست لویه لار دعه لاره کوم ولایتونه سره نښلوی او د کومو سرحدونو له لاری د پاکستان سره نښلی؟
۱۲۹خواب: دعه لاره د هیواد جنوبی ولایتونه لکه لوګر ، پکتیا ، او خوست یی له کابل سره نښلوی لکه چی حوست د علام خان د بندر سره وصل شوه او د هغی لاری د کرمی ایجنسی سره ونښته.

## د کندز بدخشان لویه لاره

۱۳۰سوال: د کندز بدخشان لویه لار دعه لار کوم ولایتونه سره نښلوی او تاجکستان سره د کوم بندر له لاری نښلی؟
۱۳۰ځواب: دعه لاره صنعتی ولایتونه لکه کندز ، تحار، او بدخشان یو له بل سره نښلوی په همدی ډول کندز شیرخان بندر له لاری د تاجکستان له هیواد سره نښلوی.

## د هوایی ترانسپورټ په هکله څه پوهیږی

۱۳۱سوال: د هوایی ترانسپورتی سکتور ودی ته هیوادونه ولی پاملرنه کوی؟
۱۳۱ځواب: دغه ترانسپورټ د نورو ترانسپورتونو په پرتله د انرژیکی موادو د ډیر لګښت له کبله په لوړه بیه تمامیږی خو سیاسی نظامی او تجارتی اړیکی ټینګوی له دی اوله دی امله هوایی سکتور ته پاملرنه کوی.
۱۳۲سوال: افغانستان ته ولی هوایی ترانسپورټ د زیات اهمیت او پاملرنی وړ دی؟
۱۳۲ځواب: د هندوکش بابا او فیروزه کوه د غرونو د یوه حایل په توګه په دوو برخو ویشلی دی او دا چی هیواد په وچه پوری تړلی دی د لویو لارو غځول د خلکو اړتیا ته ځواب نشی ویلای نو له دی امله د اهمیت د پاملرنی وړ دی.
۱۳۳سوال: د هوا نوردی فعالیت د لومړی ځل لپاره د کوم امیر په وخت په کوم کال پیل شو او د کوم ځای څخه یی کوم ځای ته الوتنه کوله؟
۱۳۳ځواب: د هوا نوردی فعالیت د لومړی ځل لپاره د امان الله خان په وخت کی په ۱۳۰۶هـ لمریز کال پیل شو د کابل ترمزارشریف تر منځ په الوتنی پیل وکړ.
۱۳۴سوال: لومړنی هوایی شرکت په کوم کال او په څه نوم په کار پیل وکړ؟
۱۳۴ځواب: لومړی هوایی شرکت په ۱۳۳۳ کال کی د اریانا هوایی شرکت په نوم کار پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۵سوال: لومړنی د ملکی هوا نوردی ریاست په کوم کال جوړ او ددی ریاست لخوا په کومو ولایتونو کی د هوایی ډګرونو په جوړولو اقدام وشو؟
۱۳۵ځواب: لومړنی د ملکی هوانوردی ریاست په ۱۳۳۵ هـ. ل جوړ او ددی ریاست لخوا په کندهار ، مزار شریف ، هرات، او جلال اباد کی هوایی ډګرونو په جوړولو اقدام وشو.
۱۳۶ځواب: د هوایی ترانسپورټ څخه د کومو مالونو د انتقال لپاره ګټه اخیستل کیږی؟
۱۳۶ځواب: د هوایی ترانسپورټ څه د مسافرینو او هغه مالونو د انتقالو لپاره ګټه اخیستل کیږی چی حجم یی لږ او ارزښت یی زیات وی.

## د هیواد هوایی شرکتونه او ډګرونه

۱۳۷سوال: ملکی هوایی ریاست په ۱۳۳۵ هجر لمریزکال څو موسسی درلودی؟
۱۳۷ځواب: د ملکی هوایی ریاست په ۱۳۳۵لمریز کی دوه ستری موسسی د هوا پیژندنی او هوانوردی په نوم درلودلی.
۱۳۸سوال: د ملکی هوایي ریاست په هغه وخت کی ستری دندی څه وی؟
۱۳۸ځواب: د هوایی ډګرونو جوړول او مراقبت ، د مخابرو او د دستګاوو او د هوانوردی د وسیلو او میتورولوژی د ستیشونو نصبول، د ټولو تشبثاتو او د هوایی حمل و نقل د موسسو تنظیم او اداره ، د ملکی هوانوردی اړونده د ټولو مقرراتو او اصولنامو اجراکولو او پّه پای کی په نوموړو څانګو کی د اړتیا وړ فنی پرسونل روزنه ، ددی ریاست ستری دندی ګڼل کیدی.

## د کابل د نړیوال ډګر جوړول

۱۳۹سوال: د کابل د نړیوال ډګر جوړولو کار په کوم کال شروع او په کوم کال سرته ورسیده دغه ډګر د یو عصری تر مینل په لرلو سره په کومو وسایلو سمبال دی؟
۱۳۹ځواب: ددی ډګر د جوړولو کار په ۱۳۳۹لمریز کال کی پیل شو ، او په ۱۳۴۱لمریز کال کی پای ته ورسیده چی دننیو او بهرنیو الوتکو دګتی اخیستنی وړوګرځید په دی سربیره دغه ډګر یو عصری ترمینل چی په ټولو وسایلو سمبال دی لکه مخابره ، هواپیژندنی ، هوایی ترافیک ، د ګمرک څانګی ، تعایمی مرکز، تخنیکی ورکشاپونه او داسی نور هم لری.
۱۴۰سوال لومړیو پړاوونو کی په کومو ولایتونو کی د څو هوایی ډګرونو د جوړولو کار پیل شو او په کومو درجو درجه بندی شو؟
۱۴۰ځواب: ۱۳۸۸لمریز کال کی تقریباً ۳۷هوایی ډګرونه وو ، چی له هغی ډلی څخه د کابل او کندهار هوایی نړیوال ډګرونه لومړی درجه پرمختللی تاسیسات او د الوتکو د منډی قیر شوی لاری لری. د هرات ، مزارشریف، جلال اباد او کندز هوایی ډګرونه د لږ ظرفیت په لرلو په دویمه درجه کی دی ترمینل او د الوتکو د منډی قیر شوی لاری لری نور ۱۴ هوایی ډګرونه دریمه درجه او ۷ نور څلورمه درجه کی راځي چی ترمینل او د الوتکو د منډی خامه لاری لری د هغو سربیره پنځمه درجه هوایی ډګرونه هم په هیواد کی شته.
۱۴۱سوال: هغه عاید چی د نړیوالو هوایی ډګرونو د مقرری سره سم د بهرنیو الوتکو له الوتنو څخه په ۱۳۸۸ هجری لمریز کال د دولت د خزانی ته تحویل شوی شماره وار یی ولیکی؟
۱۴۱ځواب: ۱: د هری بهرنی الوتکی له ټول وزن څخه ، د یو ټن (۵۰۰) افغانی د دولت عوایدو ته تحویل شوی دی.
۲: د هری بهرنی الوتکی له الوتنی څخه ترافیکی خدمتونه (۷۵۰۰) افغانی اخیستل شوی دی.
۳: هره بهرنی الوتکه چی له څلورو ساعتونو څخه زیاته په هوایی ډګر کی تم شوی ، د درولو کرایه د ( پارکنګ ټکس ) وړ څخه اخیستل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴: هره بهرنی الوتکه چې په ترانزیتي توګه زموږ د هیواد له فضا څخه تیریږي ( ۲۰۰۰۰) افغانی او یا د هغی معادل ۴۰۰ امریکایي ډالره ورڅخه اخیستل شوی دی.

# هیواد هوایی شرکتونه

۱۴۲سوال: د آریانا هوایی شرکت په کوم کال په فعالیت پیل کړی لومړنی پانګه یی څومره وه او ددی شرکت مشترکین څوک وو؟
۱۴۲ځواب: د آریانا هوایی شرکت په ۱۳۳۳ لمریز کال پیل وکړ او لومړنی پانګه یی دری سوه زره امریکایي ډالر وو چې ۵۱سلنه ددولت ونډه او ۴۹ یی د اندیمان شرکت ونډه وه.
۱۴۳سوال: د آریانا افغان هوایی شرکت لومړنی الوتنه په څه ډول او د کومی الوتکی په مرسته یی کولی او چیرته یی څومره مسافرین انتقالول؟
۱۴۳ځواب: ددی شرکت لومړنی الوتنی د DC- 3الوتکی په مرسته چې د ۲۸ مسافرانو ظرفیت یی درلودله کابل څخه د کندهار ، هرات او مزار شریف ښارونو ته یی الوتنه کوله.
۱۴۴سوال: دوه کاله وروسته د اندیمان لوی شرکت په کوم شرکت کی مدغم شو او هم واضع کړی چې د اریانا افغان هوایی شرکت نړیوالو هوایی ډګرونو ته څنګه لار پیداکړی؟
۱۴۴ځواب: دوه کاله وروسته د اندیمان لوی شرکت د پان امریکن شرکت کی مدغم شو چې ۴ــ DC چار او ۶ــDC دوه الوتکی وپیرودلی او د نړیوالو د هوایی ډګرونوته لار پیداکړه.
۱۴۵سوال: د اریانا افغان هوایی شرکت لومړنی بهرنی الوتنه په کوم کال د کوم ځای څخه کوم ځای ته وه؟
۱۴۵ځواب: اریانا افغان هوایی شرکت لومړنی بهرنی الوتنه له کابل څخه د بحرین په لور وه ، چې د ۱۳۳۴ لمریز کال د عوایی میاشت کی له ۲۸ مسافرانو سره سرته ورسیده.
۱۴۶سوال: فعلاً اریانا افغان هوايي شرکت څو الوتکی لری کومو داخلی او حارجی ښارونو ته الوتنی کوی؟
۱۴۶ځواب: بیا هم ۴-۲۱ AN الوتکه او ۷۲۷- B څلورالوتکی Airbus-۳۰۰ یو الوتکه او ۳۱۰- Airbus نوی ماډل دوه الوتکی لری چې هره ورځ له پلان سره سم داخلی ښارونو ته لکه هرات، کندهار ، مزار شریف، جلال اباد، زرنج، لښکر ګاه ، بادغیس، فیض اباد، کندز او میمنی ته الوتنی کوی اوحارجی ښارونو ته لکه د ډهلی، امرتسر ، تهران، مشهد، اسلام اباد، دوشنبی، ارومچی ، باکو ، مسکو ، دوبی، شارجه، استانبول، انقره، ریاض، جده، کیت او فرانکفورت نومونه اخیستلی شو.
۱۴۷سوال: د اریانا افغان هوایی شرکت د خپلو الوتکو په الوتنو داخلی خصوصی شرکتونو اوبهرنیو هوایی شرکتونو ته څه قسم څمکنی تول حدمات برابروی؟
۱۴۷ځواب: اریانا افغان هوایی شرکت د خپلو الوتکو په الوتنو سربیره داخل خصوصی شرکتونو او بهرنیو هوایی شرکتونو ته لکه اندین ایرلاین ، د اسمان هوایی شرکت د اذر بایجان هوایی شرکت ، د عرب متحده اماراتو او د پاکستان هوایی شرکت ته هم لازم څمکنی تول خدمات برابروی.
۱۴۸سوال:په افغانستان کی څو خصوصی هوایی شرکتونه شته نومونه یی واخلی؟
۱۴۸ځواب: په افعانستان کی دری خصوصی شرکتونه شته دی چې له صافی ایرویز پامیر او کام ایر څخه عبارت دی

# اړیـــــــــــــــــــــــکی

۱۴۹سوال: مخابرات تعریف کړی؟
۱۴۹ځواب: مخابرات Tele communicationد خلکو تر منځ د لیکنو ، غږونو ، عکسونو یا د دواړو په واسطه د افکارو، احساساتو او اطلاعاتو دراکولو ورکول معنا لری یا په بل عبارت مخابرات د خبر ، اخوال، تجارتی ، صنعتی ، رسمی ، شخصی پیغامواو د معلوماتو وړاندی کولو او رسولو وسیله ده.
۱۵۰سوال: د اړیکو د ټینګولو لپاره د کومو وسیلو څخه کار اخیستل کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۰ځواب: د اړیکو ټینګولو لپاره له اخبار، راډیو ، تلګراف، ټیلفون، تلویزیون، پست ، فکس او انترنیت،دغه ټول له لیری واټن څخه د اړیکو چټکی وسیلی دی.

۱۵۱سوال: راډیو او نوری څپی په یوه ثانیه کی د څو کیلو مترو په چټکی سره حرکت کوی؟

۱۵۱ځواب: راډیو او نوری څپی په یوه ثانیه کی د ۳۰۰۰۰۰کیلو مترو په چټکی حرکت کوی.

۱۵۲سوال: د مخابراتو د اهمیت په اړه معلومات ولیکی او هم واضع کړی چی د مخابراتو لومړی وسیله کومه یوه احتراع شوه؟

۱۵۲ځواب:د مخابراتو د اهمیت په هکله د یادونی وړ ده چی د اړیکو دی برخی ته د ټولنی د اعصابو اصطلاح ور کړ شویده ځکه چی په ټولنه کی د افکارو د انتقال او راکړی ورکړی ښه وسیله ده په هغو ټولنو او هیوادونو کی چی مخابرات یی ښه فعال دی په دی معنا چی د ټولنی اعصاب ښه کار کوی او ټولنی هم ښه پرمختګ کړی دی. مخابراتی لومړنی وسیله تلګراف اختراع ده.

۱۵۳سوال: مصنوعی سپوږمکیو د مخابراتو او اړیکو په برخه کې ډیر لوی انقلاب رامنځ ته کړی دعه د اړیکو انقلاب واضع کړی؟

۱۵۳ځواب: مصنوعی سپوږمکیو د مخابراتو او اړیکو په برخه کی ډیر لوی انقلاب رامنځته کړی دی چی د ټیلیفون او مبایل، تلویزیون او انټرنیټ د تکنالوژی د پراختیا سبب شوي ده په دی سربیره ، مصنوعی سپوږمکی ځمکی څخه په بیلابیل تصویرونه او جغرافیایی نقشی جوړیږی.

۱۵۴سوال: د کابل په مهتاب کلا کی یو ګیټ وی GATE — WAYنصب شوی ددی ګیټ وی ګټی تشریح کړی؟

۱۵۴ځواب: د ځمکنی تم ځای او مصنوعی سپوږمکی په واسطه فعالیت کوی یو لوی دیش او مخابراتی او تخنیکی پر مختللی سیستم لری له دی ګیت وی څخه په ملی او نړیواله کچه ګټه اخیستل کیدی شی اوس دولتی ارتباطات او مخابراتی شرکتونه د ټیلفونی فکس ،تلویزیونی او انټرنیټی اړیکو لپاره له هغی څخه ګټه اخلی او د هیواد ۳۶۴ ولسوالی او اداری د همدی ګیټ وی په مرسته له نړی سره نښتی دی همدارنګه د مخابراتو خصوصی شرکتونو د نړیوال فعالیتونو لپاره د خپلواکه ګیټوویو اخیستنی اجازه هم ور کړ شویده.

## پست پهpost افغانستان کی

۱۵۵سوال: د لومړ ی ځل لپاره په افغانستان کی پستی کارونه په کوم کال او د کوم امیر په دوره کی رواج ومونده هغه پست خانه چی د کابل په بالا حصار کی جوړه شوی وه په څه نوم یادیده؟

۱۵۵ځواب: لومړی ځل لپاره په افغانستان کی پستی کارونه ۱۸۷۰ م کال د امیر حبیب الله خان په وخت هغه پست خانه چی په با لا حصار د( چا پار خانی ) په نوم یادیده.

۱۵۶سوال: هغه دولتی مکتبونه د فوری کلمه وربانډی لیکل شوی وه په څه نوم یادیده او ددی پستی انتقال په کومه طریقه وه؟

۱۵۶ځواب:هغه دولتی مکتوبونه چی د فوری کلمه وربانډی لیکل شوی د فوق العاده پسته ګنل کیده ( د پست بردار) په نم یادیده دغه پسته پر اسپ سپاره استوونکی له خوا چی چاپار په نوم یادیده اصلی ځای ته لیږدول کیده.

۱۵۷سوال: د پستی منظم کارونه په کوم کال او د کوم امیر په وخت کی رامنځ ته شو؟

۱۵۷ځواب: د پستی منظم کارونه په ۱۸۹۲ م کال څخه وروسته یعنی د امیر عبدالرحمن خان واکمنی په دوره کی د پستی منظم کارونه د رامنځته شول.

۱۵۸سوال: د امیر حبیب الله خان په وخت کی پسته خانه په څه نوم یادیده او هم واضع کړی چی د پستی خانی مدیریت د کوم امیر په وخت ک جوړ شو؟

۱۵۸ځواب: د امیر خبیب الله خان په وخت کی پسته خانه دداکخانه په نوم یادیده او د پسته خانه مدیریت د امان الله خان په وخت کی جوړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵۹سوال: په کوم کال د کوم ځای څخه تر کوم ځای پورې د پستې په خاطر د موټر کار واخیستل شو په کومو نور ځایونو کې پستې دفترونه جوړ شول او افغانستان په کوم کال د نړی د پستې اتخادیه عړی شو؟

۱۵۹ځواب: په ۱۹۲۵م کال کې د کابل او مشرقی تر منځ د لومړی ځل لپاره د پستې د حمل او نقل لپاره له موټر څخه ګټه واخیستل شو او د تبادلي یو دفتر په تورخم کې هم جوړ شوی نور د فترونه په اسلام کلا د ایران په طبیات ، د مزار شریف په تاشکذر ، سپین ، بولدک او تورغونډی کې جوړ شو.

۱۶۰سوال: په کوم کال د مخابراتو ریاست د مخابراتو وزارت ته لوړ شو؟

۱۶۰ځواب: په ۱۳۴۴لمریز کال کی د مخابراتو وزارت ته لوړ شو.

۱۶۱سوال: هغه پستې قلمونه چې د پستې په واسطه انتقالولی شی نومونه یې ولیکی؟

۱۶۱ځواب: عبارت دی مکتبونه ، پست کارتونه ، کوچنی بستې، چاپ شوی مواد، د ړندو پاڼي او پارسلونه شامل دی.

## تیلفون

۱۶۲سوال: په نولسمه پیړی کی د رسنیو کومی وسیلی رامنځته شوي او هم واضع کړي چي تیلفون د څو کلمو څخه جوړشوي او معنا یی څه ده؟

۱۶۲خواب: نولسمه پیړی کی لکه عکاسی، سینما، چاپ او داسی نور او تیلفون له دوو کلمو څخه جوړ شوي چې د tale ویلو او phone غږ په معنا ده.

۱۶۳سوال: د هیواد لومړنی تیلفون دستګا څه قسم دستګا وه، د کوم امیر په وخت کي په فعالیت پیل کړي او هم واضح کړي چي زمونږ په هیواد کي د تیلفون لومړنی بیټری لرونکی سویچ بورډ د څومره لینونو په ظرفیت دکوم امیر په وخت کي جوړ شو؟

۱۶۳ځواب: د هیواد لومړنی د تیلیفون دستګاه د مسي سیمي لین په واسطه د امیر حبیب الله خاه او د هغه د ورور نصرالله خان د استوګنې په ځای کي د یو کیلو متر په اوږدوالي فعالیت کاوه او بل لین یي د امیر د استوګنځي او د هغه وخت تر قومانداني پورې او دریم لین یي د ارګ له دروازې څخه د بابر تر بڼ پورې غځیدلي وو. او بطري لرونکي سویچبورډې د ۲۵ لینونو ظرفیت یی درلوده د امیر حبیب الله خان د واکمنی په دوره کې د ارګ په شمالي څلي(برج) کي جوړ شو.

۱۶۴سوال: په افغانستان کی د پنځوسو لینونو په ظرفیت د سویچ بورډ په کوم ځاي کي د کوم امیر په وخت نصب شوي او ددي ډول تیلفون مشحصات څه وه؟

۱۶۴ځواب: په افغانستان د امان الله خان د پاچاهی په دوره کي په ۱۲۹۸ لمریز کال کي یو (۵۰) لینه سوچبورډ د شاه دو شمشیره د پُسته خانی په ودانۍ کي نصب شو او تیلفوني اړیکي د مرکز او نورو ښارونوتر منځ جوړي شوي. په همدغه ډول د هیواد پلازمینه د تلګراف په مرسته د لویو نړیوالو مرکزونو تر منځ وصل شوه. مشحصات یي ځانګړي انډل درلوده چي د هغه په مرسته به له سویچبورډ ( د خپرولو د مرکز سره او له هغه ځایه به د سویچبورډ د مسوولو کسانو(اپریټر) په مرسته د پام وړ ارتباط رامنځته کیده.

۱۶۵سوال: تیلفون د پنځو زرو لینونو اتومات دستګا د کومي کمپنی حخه حریداري شوی او په کوم کال په افغانستان کی نصبول شوي؟

۱۶۵ځواب: په ۱۳۲۲لمریز کال کي د ۵۰۰۰زور لینونو اتومات لومړنی دستګاه د المان د زیمنس له کمپنی څخه وپیرودل شو او په کابل کي په کارواچول شو او لومړنی تیلیفوني مخابره د کابل او پاریس تر منځ تینګه شوه

## مبائل

۱۶۶سوال: مبائل په کوم کال د ارتباطی وسیله په توګه وپیژندل شو او په کوم کال په کوم ځاي کی د تول ګټی احیستنې لپاره وړاندی شو.

۱۶۶ځواب: موبایل په ۱۹۸۰ م کال کي د ارتباط وسیلي په توګه وپیژندل شو او په ۱۹۸۳ م کال کي د امریکا د متحده ایالتونو په شیکاګو کي د تولو د ګټي اخستنی لپاره وړاندیي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۶۷سوال: په افغانستان کی د حصوصی کمپنی په د کومو کومو کالونو په فعالیت پیل کړي دي؟
۱۶۷ځواب: په افغانستان کي خصوصي کمپنی لکه افغان بیسیم او روشن په ۱۳۸۲ لمریز کال کي M T Nپه ۱۳۸۴ لمریز کال او اتصالات په ۱۳۸۵ لمریز کال کي په فعالیت پیل وکړ.
۱۶۸سوال: د افغانستان د ټیلفون کود څو دی او ټیلفون څخه په کوم کارونو کی ګټه اخیستل کیږي؟
۱۶۸ځواب: افغانستان د ټیلفون کود ۰۰۹۳ دي. او ټیلیفون څخه په ګټه اخطستنه اقتصادي او تجارتي اړتیاوې او د خلکو ورځنی ستونزې په ډیری چټکی او لږ وخت کي حل کیږي.د خلکو ترمنځ دتفاهم ډیره ارزانه وسیله ګڼل کیږي؟

## انټرنیټ

۱۶۹سوال:انټرنیټ په کوم کال رامنځ ته شو او د انټرنیټ د رامنځته کولو فکر د کوم هیواد سره پیدا شو او په څه کي روڅخه ګټه اخیستله؟
۱۶۹ځواب:انټرنیټ په ۱۹۸۳ میلادي کال کي رامنځته شو د انټرنیټ د رامنځته کولو فکر د امریکا د متحده ایالتونو د دفاع وزارت څخه پیل شو چي په هغه وخت کي له انترنټ څخه د اطلاعاتو د تبادلي د باوري سیستم په عنوان ګټه اخېستل کیده.
۱۷۰سوال:کومو کلونو په لسیزه کي په توله نړي کي په میلیونونو رسنیو د انټرنیټ له نړیوالي شبکي سره ونښتي؟
۱۷۰ځواب: په ۱۹۹۰ لمریز کالو نو په لسیزه کي په توله نړی کي په میلیونو رسنیو د انټرنیټ له نړیوالي شبکي سره ونښتي.
۱۷۱سوال: انټرنیټ د څو کلیمو څخه جوړ شوي او څه قسم وسیله ده؟
۱۷۱ځواب:انټرنیټ له دوو کلمو inter له international نړیوال او net د network له شبکي څخه اخیستل شوي دی. انټرنیټ بې مثله نړیواله معلوماتي وسیله ده هر څوک هر ډول معلومات چي غواړي له هغي څخه لاس ته راوړلی شي.
۱۷۲سوال:د انټرنیټ او ایمیل څخه د جغرافیه په مضمون کي څه ګټه اخیستل کیږي؟
۱۷۲ځواب: انټرنیټ او ایمیل څخه په جغرافیه کي له نور جغرافیه پوهانو سره د اړیکو ټینګول د ایمیل E mail له لارې سرته رسیږي انټرنیټ ددي امکان برابروي چي جغرافیه پوهان د نړی په بیلا بیلو سیمو کي خپلمنځي اړیکي ټینګي کړي او یو دبل په نظریاتو پوه شي.
۱۷۳سوال:د جغرافیایي مغلوماتو په خاطر د انټرنیټ څخه څرنګه استفاده کیږي؟
۱۷۳ځواب: مینه وال کوالی شی چي د پام وړ جغرافیایي موضوعګانود موندلو لپار، اړونده انټرنیټی سایټونو ته ورننوځي او د اړتیاوړ اطلاعات لکه متن ، عکسونه، نقشي او فلم لاس ته راوړي نو موړي اطلاعات د پرنټر په مرسته چاپ او یا په کمپیوټر کي زیرمه او ثبت کړي.
۱۷۴سوال: د فکس د دستګاه پواسطه څنګه پیغامونه لیږل کیږي؟
۱۷۴ځواب:د فکس دستګاه په نړیوالو اړیکو کي مهم رول په غاړه لري دغه دستګاه په څو ثانیو کي استول شوي پیغامونه د لیکلي پیغام په توګه اخیستونکي ته د نړی هري نقطي ته رسوي

### د نفوسو ویش او ګڼوالي

۱۷۵سوال:د نفوسو ګڼوالي تعریف او د نفوسو ګڼوالي څنګه معلوموو؟
۱۷۵ځواب:د نفوسو ګڼوالی د ځمکي د سطحي په یوه واحده ساحه کي د اوسیدونکو خلکو د شمیر څخه عبارت دي د نفوسو د ګڼوالي د معلوملو لپاره باید دیوي سیمي نفوس د همغي سیمي په پراخوالي وویشل شی.
۱۷۶سوال:په ۲۰۱۰ م کال کي د نړی نفوس څو میلیارده ته رسیده او هم واضح کړي چي د نفوسو ویشنه په نړی په څه ډول ده لاملونه یي په ګوته کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷۶ځواب: ۶،۸ میلیارد تنو ته رسیده دغه نفوس په ټوله نړۍ کی په مساوی ډول نه دی اقلیمی شرایط ، ځمکی جوړښت او نور اقتصادی بشری او سیاسی لاملونه د نفوسو په تمرکز اغیز لري .

۱۷۷سوال:د نفوسو ځاي پر ځاي کيدو کي د فزيکي غواملو اغيزي تشريخ کړي؟

۱۷۷ځواب: لکه جعرافیی موقیعت ، لوړی سیمې ، اقلیمې شرایط ، اوبه او داسی نور چې په مستقیم یا عیر مستقیم ډول د ځمکې د منابعو په ګټه اخیستنې باندې اعیزې لري

۱۷۸سوال:د نفوسو د ځاي پرځاي کيدو کي د اقتصادي عواملو اغيزي تشريخ کړي؟

۱۷۸ځواب: په طبیعی منابعو او بشری فعالیتونو متکي دي چې له کانونو ، اوبو ، خاورې له ډولونو ، نباتاتو ، خیواناتو ، د پانګې په شتون او په نوي تکنالوژي ، د کار په شرایطو ، صنایعو او داسی نورو څخه عبارت دی چې د نفسو په کڅوالی اعیزی لري .

۱۷۹سوال:په طبيعي منابعو او بشري فعاليتونومتکي ده چي له کانونو، اوبو، د خاوري له ډولونو نباتاتوو خيواناتوو پاننګي په شتون او په نوي تکنالوجي، د کار به شرايطو ، صنايعو او داسی نورو حخه عبرت دي جي د نفوسو په زياتوالي غيزي تشريخ کړي؟

۱۷۹ځواب:

۱۸۰سوال: د نفوسو د ځای پرځای کیدوکي دسياسيي عواملو اغيزي تشريح کړي؟

۱۸۰ځواب: دولت که چیرې د هیواد پرمختیایی پروګیرامونو په برخه کې پانګې اچونې ، د کارونو پیداکولو او یا خدماتی امکانات او روعتیایی فعالیتونو ته پاملرنه ونه کړي د نفوسو ګڼوالی هلته لږوي .

۱۸۱سوال:دنفوسو د ځاي پرځاي کيدو کي بشري عواملو اغيزي تشريخ کړي؟

۱۸۱ځواب: لېری پرتی سیمی چې د حمل او نقل لارې او ارتباطی وسایل په لاس کی نه لري خلک هلته په تیت او پرک ډول ژوند کوي .

۱۸۲سوال:د پورتينو لاملونو په پام کي نيولو سره ګڼ نفوسه سيمي په څو برخو ويشل شوي؟

۱۸۲ځواب: په دريو برخو

لومړی : اسیا ګڼ نفوسه سیمې

دوهمه : اروپا ګڼ نفوسه سیمې

دریمه : امریکا متحده ایالات ګڼ نفوسه سیمې

۱۸۳سوال:په اسيا کي ګڼ نفوسه سيمي کومي سيمي دي او ولي ګڼ نفوسه دي؟

۱۸۳ځواب: پاکستان ، جاپان ، هند ، بنګله دیش ، چین او کوریا ټاپو وزمه علت یی د اب او هوا کرنې ښه شرایط او د نفوسو طبیعی زیاتوالی .

۱۷۴سوال:په اروپا کي ګڼ نفوسه سيمي کومي سيمي دي او ولي؟

۱۷۴ځواب: د پانګوالی په دوره کې رامینځته شوي علت یی د سیندونو عاړه ، بندرونه او صنعتی مرکزونه او کرنیزې ځمکو شتون

۱۷۵سوال: په امريکاکي ګڼ نفوسه سيمي کومي سيمي دي او وليکی نفوسه دي؟

۱۷۵ځواب: نیوانګلند ، نیویارک ، پنسلوانیا او پنځه ګونو جهیلونو شاوخوا او کاناډا جنوب ختیځ دی د هغې لامل تجارتې او صنعتی مرکزونه دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په نړۍ کې د نفسوکی د نفوسو د زیاتوالی لړوالی ستونزی

۱۶۹سوال: په نړی کی نفوس ولی زیاتیری؟
۱۶۹ځواب: ځکه چي د نړۍ نفوس په ډیره چټکی زیاتیږي، ځکه چې زیږونه birth rate له مړیني death rate څخه زیات دي.
۱۷۰سوال: د شلمی پیړی د سر په کلونو کی په کال کی څومره او د همدی پیړي په نیمائی په کال کی څومره او اوس په کال کی څومره نفوس زیاتیږی؟
۱۷۰ځواب: د شلمي پیړی په پیل کي دغه د نفوسو زیاتوالی په کال کي ۱۰ میلیونه، د همدې پیړی په نیمایي کي په کال کي ۳۵- ۴۰ میلیونو پوري او اوس له ۶۰ څخه تر ۶۵ میلیونو تنو پوري په کال کي زیاتیږي.
۱۷۱سوال: د نفوسو طبعی زیاتوالی د کومو مهمو لاملونو پوری اړه لری واضح یی کړي؟
۱۷۱ځواب: د نفوسو طبیعی زیاتوالی د زیږونونو په زیاتوالي او دمړیني په کموالي پوري اړه لري د مثال په ډول که په یوه هیواد کي زیږونه په زرو کي ۴۰ وي او مړینه په زرو کي ۲۰ وي د نفوسو زیاتوالی به ډیر زیات وي د نفوسو زیاتوالی په ډیرو لاملونو پوري اړه لري چي مهم یي اقتصادي ، ټولنیز، او کلتوري لاملونه دي.
۱۷۲سوال طبیعی زیاتوالی د نفوسو په څو برخو ویشل شوی دی لومړی ډول زیاتوالی د پرمختللو هیوادونو لکه شمالی امریکا د اروپا یی پانګوالو هیوادونو او اوس ځانګړتیا ده دعه هیوادونو د نفوس وده ډیره کمه او نور هم د کمیدو په حال کی ده لاملونه یی په ګوته کړی دویم ډول پرمخ ودی هیوادونو ځانګړتیا ده لکه اسیا، افریقا، او لاتینه امریکا چي دلته ډیر زیږونونه کیږی ددی لاملونه په ګوته کړی؟
۱۷۲ځواب: طبیعی زیاتوالي په دوه برخو ویشل شوي لومړي ډول د شمالي امریکا او اروپا پانګه والو هیوادنو او دچین او روسیي خانګنړتیا ده د هغو خصوصیات ډیره لږه زیږونه چي نورهم د کمیت په حال کي دي او لاملونه یي په لاندي ډول دي. ۱: په پرمختللو هیوادنو کي ښاري نفوس اکثریت لري ښکاره ده چي زیږنه په ښاري کورنیو کي له کلیوالي کورنیو څخه لږ وي.۲ : په دې هیوادونو کي ښځي ټولنیزو کارونو ته جلب اوجذب شوي دي معمولاً هغه ښځي چي کور څخه د باندي کارونه لري نسبت هغو ښځو ته چي کار نه کوي د ماشومانو شمیریي لږ وي سلنه یا په زور کي له ۵ــــ ۱۰ پوري وي کله یي اندازه له دي څخه هم کمه وي دغه لږ زیاتوالي د پرامختللو هیوادنو ځانګړتیا ده.
دویم: ډول زیاتوالی د مخ پر ودي هیوادونو ځانګړتیا ده لکه آسیایي، افریقایي او د لاتیني امریکا هیواوادنه، چي هغه د زیات زیږونونو څخه عبا رت دی ،چي په لاندي لاملونو پوري اړه لري. د اقتصادي ودي ډیره ټیټه سطح، د میکانیزه ماشیني کرني نه شتونو بیسوادي د اکثریت خلکو له پاره د حفظ الصحي نشتوالی په ټولنه کي د عنعنوي فرهنګ څخه د ښځو پیروي کول او د هغوي له وخت څخه مخکي نکاح او داسي نور.
۱۷۳سوال:د پرمخ ودي هیوادونو او پرمختللو هیوادنو د نفوس هیرومونه څه توپیر لری؟
۱۷۳ځواب: د پرمخ ودی هیوادنو هرم قاعده لویه او د پرمختللو هیوادونو هرم قاعده کوچنی ده

## د نفوسو میخانیکي زیاتوالی

۱۷۴سوال:د نفوسو میخانیکي زیاتوالی څرنګه رامنځته کیږي؟
۱۷۴ځواب:که چیری د هیواد ته له باندی څخه مهاجرتونه له هیواد څخه بهرته مهاجرتونو په نسبت زیات وی د نفوسو د میخانیکی زیاتوالی رامنځته کیږی.
۱۷۵سوال:د نفوسو مطلقه وده څه شی سره مساوی ده؟
۱۷۵ځواب: د نفوسو مطلقه وده = ( د زیږونونو شمیر – د مړیني شمیر) + هیواد ته له بانید څخه مهاجرت.
د نفوسو مطلقه وده= ( د زیږونو شمیر- د مړیني شمیر) – له هیواد څخه نورو هیوادونو ته مهاجرت.
۱۷۶سوال: اضافی نفوسو اصطلاح کوم وحت رامنځته کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷۶ځواب:د اضافي نفوسو اصطلاح هغه وخت رانمځته کیږي او استعماليږي چې په یوه سیمه کې د منابعو له شتو امکاناتو څخه زیات نفوس استوګنه ولري او یا له ټاکلو تولنیزو هدفونوڅخه زیات وی

۱۷۷سوال:د نفوسو چټکه وده او زیاتوالی او د زیږون زیاتوالی د وروسته پاتي هیوادو ځانګړتیا ده د نفوسو دغه زیاتوالی کوم مشکلات منځته راوړی؟

۱۷۷ځواب:د نفوسو دغه طبیعي زیاتوالی اقتصادي بودیجه محدودوي او فشار پرې زیاتوي او کارونه په ټپه دروی.

۱۷۸سوال: په پخوا زمانو کې د نفوسو د محدودیت سببونه (وجې) څه وي ولیکئ؟

۱۷۸ځواب: په پخوانیو وختونو کې صحي خدماتو زیاته پراختیا نه وه کړې قحطي، ناروغي او جګړې، د نفوسو د محدودولو لاملونه وو.

۱۷۹سوال:مخکې مو وویل چې په ۲۰۱۰میلادي کال کې نفوس ۶,۸ ملیارده تنه وو په ۲۰۵۰میلادي کال او ۲۱۵۰میلادي کې به څومره وي؟

۱۷۹ځواب:۲۰۵۰میلادی کال کې به ۹ میلیاردو او په ۲۱۵۰میلادي کال کې د اټکل له مخې ۱۱ میلیاردوته د رسیدو وړاندوینه شوې ده چې که کنترول نشي نو نړۍ به له فاجعې سره مخامخ کړي.

## د نړۍ په ځینو هیواودونو کې د فعال اقتصادي نفوسو د لږوالي ستونزې

۱۸۰سوال: په هغه هیوادونو کې چې زیږون د مړیني څخه کم وي څه ستونزې پیداکیږي؟

۱۸۰ځواب: همدغه لامل سبب کیږي چې د بوډاګانو نفوس چې عمر یې له۶۵ کلنۍ څخه زیات وي یا متقاعد او د ناتوانو خلکو شمیر زیاغتیږي په دې صورت کې صنایع د بشري قوې له کمښت سره مخامخکیږي او د صنایعو پرمختګ محدودیږي.

۱۸۱سوال: د کوم کال په لسیزو کې پرمختللو هیوادونو مخ پر ودی هیوادونو د اقتصادی او فرهنګی پرمختګ لپاره د کورینو د محدودلو وړاندیز وکړ ددې وړاندیز سره کومو هیوادونو موافقه وکړه؟

۱۸۱ځواب: ۱۹۵۰ م کال په لسیزو کی پرمحتللو هیوادونو مخ پر ودی هیوادونو د اقتصادی او فرهنګی پرمختګ لپاره د کورینو د محدودلو وړاندیز وکړ هند ، چین او مصر موافقه وکړه ،

۱۸۲سوال: بعضې پوهان په دې نظر دي چې د نفوسو زیاتوالي ازاد پریښودل شي علت ئې څه دی؟

۱۸۲ځواب: علت یی دا دی چی زیات نفوس د تولیداتو د زیاتوالی او د اقتصادي ودې سبب ګرځي

.

## مهاجرتونه

۱۸۳سوال:مهاجر چا ته ویل کیږي؟

۱۸۳ځواب:مهاجر هغه چاته ویل کیږي د استوګنی خای ته بدلون ورکړی او دیو اداری واحد څخه بل اداری واحد ته مکان شوی وی.

۱۸۴سوال:مهاجرتونه په څو ډول دي نومونه یې ولیکئ؟

۱۸۴ځواب: مهاجرتونه په دوه ډوله دي ۱: اختیاری مهاجرتونه ۲: اجباری مهاجرتونه

۱۸۵سوال:د ملګرو ملیتونو د ارقامو له مخې په ۱۳۸۷هـ ل کال کې څومره خلک د نړیوالو سرحدونوڅخه تیر شوي دي او د کومو هیوادونو وو؟

۱۸۵ځواب: د ملتونو د ارقامو له مخې شمیریې په ۱۳۸۷لمریز کال کې ۲۴میلیونه وو او هغه خلک چې له نړیوالو سرحدونو څخه اوړيږي د پیناه۸ اخیستونکو په نوم یادیږي. لکه فلسطینیانو چې په عرتي هیوادونو کې او افغانانو په ګاونډیو او د نړۍ په نورو هیواد ونوکې پناه اخیستې ده.د هغو پناه اخیستونکو ټول شمیر ۱۶ میلیونو ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸۶سوال: لنډ مهاله مهاجرتونه کومو مهاجرتونو ته ویل ولیکئ؟
۱۸۶ځواب: ځیني نوموړي مهاجرتونه لنډ مهاله دي چي لومړني ځاي ته د بیرته راګرځیدو نیت لري لکه زموږ د هیواد کوچیان چي د آب وهواو څرځایونو د او د موسم د تغیر له مخي بیا بیرته لومړني ځاي ته راګرځي.
۱۸۷سوال: مهاجرتونه د کومو لاملونو په واسطه تر سره کیږئ؟
۱۸۷ځواب:طبیعی، اقتصادي، سیاسی او مذهبی لاملونو په نتیجه کی منځته راځي.
۱۸۸سوال:د مهاجرتونو طبیعی لاملونو اقتصادي سیاسی او مذهبی لاملونو تشریح او سره د مثاله واضح کړي؟
۱۸۸ځواب:۱:طبیعي لاملونه : طبیعي لاملونه هم د مهاجرت سبب ګرځي لکه پّ سیمه کي د اووبو کمښت د آب وهوا د شرایطو خرابتیا، د خاوري کمزورتیا یا طبیعي افتونه لکه زلزلهو سیلابونه ، سمندري طوفانونه، وچکالي او داسي نور.
۲: اقتصادي لاملونه اقتصادي لاملونه د مهاجرت بنسټیز لامل دي اوس دغه مهاجرت دمخ پر ودې هیوادونو ځانګړتیا ده ځکه په دې هیوادنو کي د کلیو او ښارونو تر منځ ډیره نا برابري ده.
۳: سیاسي مهاجرت: دغه اصطلاح زیاتره د سیاسي پناه اخیستونکو له پاره کارول کیږي هغه چاته اطلاق کیږي چي د بیلابیلو لاملونه له مخي لکه جګړي دهشت سیاسي تعقیت، مذهبی عقایدو ، د ټولنیزو ډلود اړیکو او هغه قومي اقلیتونه چي اصلي هیوادونه یي پرې ایښی دي له له بل هیواد څخه یي د پناه اخیستني غوښتنه کړي وي .
۴: مذهبي مهاجرتونه: دغه ډول مهاجر تونه په مذهبي او نورو ټولنیزو او فرهنګي مصسایلو باندید قیوداتو او محدود یتونو وضع کولو له مخي کیږي ددي ښه مثال په ۱۹۴۷ میلادي کال کي په هندوستان او پاکستان باندي د هند د لوییي نیمي وچي ویش و چي د هغه په پاي کي په میلیونو د هندو مذهب د پیروانو کورنی له پاستان څخه هند ته او په مقابل کي په میلیونونو مسلماني کورنیو له هند څخه پاکستان ته پخپله خوښه مهاجرت وکړ.

## نړیوال مهاجرتونه او دهغی پایله

۱۸۹سوال:مهاجرتونه د کومو لاملونو د مخي کیږي؟
۱۸۹ځواب: مهاجرتونه دوه لاملونه لري ۱: نامساعد لاملونه ۲: جذبوونکي لاملونه.
۱۹۰سوال:نامساعد لاملونه او جذبوونکی لاملونه کوم یو دي تشریح کړي؟
۱۹۰ځواب:نامساعد لاملونه: لکه طبیعي اقتصادی، ټولنیز، سیاسي او مذهبي لاملونه چي په مخکینیو لوستونکي ورڅخه یادونه شوي ده.
جذبوونکي لاملونه: لکه د یوې ساحي د نفوسو کموالي، راښکونیکی سیمي د ځمکي لاندي منابع، د کار زیاتوالي او ډیره اجوره.
۱۹۱سوال:په هیواد کي داخل مهاجرتونه او د هیواد څخه بهر مهاجرتونه د څه په نوم یادیږي ولیکئ؟
۱۹۱ځواب: ځیني په هیوادکي دننه وي ،چي په هیوادکي دننه دمهاجرت په نوم یادیږي. او ځیني له نړیوالو سرحدونو په تیریدو سره کیږي ، چي د بهرنیو مهاجرتونو په نوم یادیږي.
۱۹۲سوال: نړیوال مهاجرتونه په کومه پیړي کی او د څه په اساس پراحتیا وموندہ؟
۱۹۲ځواب: نړیوال مهاجرتونو د ۱۵ م پیړی د جغرافیایي لویو اکتشافونو په پایله کي پراختیاوموندله.
۱۹۳سوال::شمالي امریکا هیوادونو څو سلنه اروپائی مهاجرین او څو سلنه افریقال یی تور پوستي مهاجرین دي؟
۱۹۳ځواب: شمالي امریکا هیواد ونه دي چي ۹۵ سلنه نفوس یي اروپایي مهاجرین او ۲ سلنه یي افریقا یي توریوستکي دي.
۱۹۳سوال په ۱۸۱۵ میلادی کال څخه تر ۱۹۲۰ میلادی کال پوری د انګلستان څخه څومره خلکو مهاجرت پیل کړ او دی مهاجرتونو څو اړخه درلوده؟
۱۹۳ځواب: په ۱۸۱۵ میلادي کال څخه تر ۱۹۲۰ میلادي پورې ۱۷ میلیونه تنو مهاجرت پیل کړ. دغو مهاجرتونو دوه اخونه درلودل، دایمي مهاجرین او د اداري کارکونکو او مذهبي مبلغینو مجارت چي موقتي جنبه یي لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۴سوال:په کوم کال امریکا د مهاجرینو د منلو په خاطر قانون وضعه کړ دی قانون اول د کومو خلکو مخنیوی کاوه؟
۱۹۴ځواب:امریکا دمتحده ایالتونوکانګرس د مهاجرینو دمخنیوي له پاره په ۱۹۲۴ میلادي کال کي دمهاجرینو په نوم قانون تصویب کړ نوموړي قانون زیات د هغوو مهاجرینو مخه نیوله چي د جاپان او چین ژیر نژاد پورې یي اړه درلوده.
۱۹۵سوال:اوس د کومو هیوادونو څخه کومو هیوادونو ته مهاجرت کړي؟
۱۹۵ځواب: اوس برعکس زیاتره نړیوال مهاجرین د دریمي نړی له هیوادونو څخه پرمختللي صنعتي هیوادونو ته کیږي چي بنسټیز لامل یي اقتصادي او سیاسي لامل دي.

# نژادونه

۱۹۶سوال: نژاد تعریف کړی؟
۱۹۶ځواب: نژاد د خلکو ډلي ته ویل کیږي چي د ظاهري څیرې د پوستکي او ویښتانو رنګ بیلوونکي نښو او ارثي ګډي ځانګړتیاوي ولري.
۱۹۷سوال:د نړی خلک په څو نژادنو تقسیم شوی دی؟
۱۹۷ځواب: دنړی خلک په دري نژادونو باندي‌ٍ تقسیم شوي دي ۱: سپین نژاد: ۲ژیر نژاد ۳: : تور نژاد
۱۹۸سوال: د سپین نژاد، زیر نژاد، تور نژاد او سرو پوستکو حصوصیات ولیکئ؟
۱۹۸ځواب: سپین نژاد خصوصیات لوړه ونه، سپین پوستکی، جګه پزه او خرمایي ویښتان او پرانیستي سترګو ځانګړي بڼه اولړ غوندي چاغ وي.
ژیر نژاد خصوصیات ژیړ پوستکي ،تور او صاف ویښتان، لړه ږیره، ګرد سرو بادامي سترګي لنډه پزه، ټیټه ونه او لړ غوندې چاغ وي.
تور نژاد خصوصیات تور یا نصواریته ورته پوستکی او پلنه پزه ، ګرکوتي ویښتان او پیړې شونډي لري.
سره پوستکي خصوصیات: اصلاً د ژیر نژاد پورېي اړه لري، خو دمذهبي عقیدو له مخې په مخ او ویښتانو نکریزي وهي نوله همدي امله د سور پوستکو په نوم مشهور شوي دي.
۱۹۹سوال:نژادونه د کومو طبیعی شرایطو په نتیجه کي منځته راغلی تشریح یی کړی؟
۱۹۹ځواب:نژادونه د طبیعي چاپیریال د بیلابیلو شرایطو، اقلیم او خوړو سره د تطابق له مخې چي په انساني ژوند باندي اغیزه لري رامنځته شوي دي.
۲۰۰سوال: ملګرو ملتونو په کوم کال د نژاد ونو ترمنځ د تبغض له منځه وړلوفیصله وکړه؟
۲۰۰ځواب: ملګرو ملتونو په ۱۹۶۵ م کال کي د نژادونو ترمنځ د تبغض له منځه وړلو فیصله وکړه.

## د نژادونو جغرافیایی ویش

۲۰۱سوال:په اسیا، اروپا افریکا، امریکا، او استرالیا کی سپین نژاد تور نژاد او زیر نژاد خلک په کومو سیمو کی اوسیږی؟
۲۰۱ځواب:
۲۰۲سوال: د افریقا تور پوستکی په څو ګروپونو باندي ویشل شوي دي نومونه یی ولیکئ؟
۲۰۲ځواب: افریقا تورپوستکي په څلورو ډلو ویشل شوی دی. چي نومونه یي عبارت دي بانتو، نیلوت nelotes پیګیمي pygmiesبوشمن bushmenاو هوتن تت hottentotsڅخه ده.

## د نړي مهم دینونه

۲۰۳سوال: دینونه په څو ډوله دي؟
۲۰۳ځواب: دینونه دري دوله دی اینمیزم یا د طبیعی پدیدو، ارباب النواع، اسمانی دینونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۴سوال:اینمیزم یا د طبعی پدیدو د پیروانو په هکله معلومات ولیکئ؟
۲۰۴ځواب: انیمیزم د انسانانو له لومړنیو آیینو څخه ګڼل کیږي ددې آیین پیروان وایي چي ټول شیان او جمادات روح لري ددي آین پیروانو په تیرو وختونو او دورو کي په تیره بیاله تاریخي دوري څخه مخکي ، طبیعي په تیره بیا حیرانوونکي حارق العاده شیانو او پدیدو ته د خدايي خاصیت قایل و، لکه بریښناو تندر، روښنایی، طوفان، باران او داسي نورو د ماوراي طبیعت قدرت په صفت پیژندل.
۲۰۵سوال:ارباب النواع د عقیدو د پیروانو په اړه معلومات ولیکئ؟
۲۰۵ځواب: د ارباب الانواع د عقیدي پیروان: ددې عقیدي پیروانو باور درلدهچي هره حادثه او پدیده جلا خداي لریدغه آیین د یونان له مدنیت څخه پیل شوی دی او دروم دمدنیت په وخت کي اعلی درجي ته ورسیده لکه د اور غورځوونکي اتشفشان خدای د بریښنا او تندر خدای دسمندرونو خداي د ستورو خدای د باران خدایاو داسي نور.
۲۰۶سوال:د اسمانی دینونو په هکله معلومات ولیکئ؟
۲۰۶ځواب: د اسماني دینونو پیروان دغه دینونه زیاتره اخلاقي اړخ لري او د خداي (ج) عبادت کوي . چي د هغې د لاربنووني له پاره يي بیلابیل پیغمبران درلودل لکه یهودیت، مسیحیت او اسلام چي تر ټولو کامل دین د اسلام مقدس دین دی.

## داسلام سپیڅلی دین

۲۰۸سوال:د اسلام دین بنسټ په څه شی ولاړ دې اسلام د چاپه واسطه او د څه په نازلیدو سره په کوم ځای انسانانو ته وړاندي شو؟
۲۰۸ځواب:د اسلام سپیڅلی دین د الهی وحدانیت او ټولنیز عدالت په بنسټ ولاړ دی چی د خصرت محمد ص په بعثت او د قرانکریم په نازلیدو سره په مکه مکرمه کي انسانانو ته وړاندي شو.
۲۰۹سوال: اسلام دین څه وخت په چټکی سره خپور شو؟
۲۰۹ځواب:کله چی محمد ص له مکي معظمي څخه مدینی منوري ته هجرت وکړ له هغی څخه وروسته د اسلام مقدس دین په ډیره چټکی خپور شو.
۲۱۰سوال: په اوس وخت کي نړي نفوسو څومره برخه مسلمانان جوړوي؟
۲۱۰ځواب:تقریباً د نړي نفوسو پنځه برخه مسلمانان جوړوي.
۲۱۱سوال: د اسیا د لوي وچه په کومو برخو کي اسلامي هیوادونه دي د اسلامي هیوادونو د خاوري پراختیا څومره ده او د اسیا د لوی وچه د نفوسو څومره برخه مسلمان جوړوي؟
۲۱۱ځواب:ددی لوی وچي اسلامی هیوادونه په منځنی ختیځ منځنی اسیا چنوبی او چنوب ختیځی اسیا کی پراته دي ددي اسلامي ۹۸هیوادونو د خاوری پراختیا ۱۵ میلیونه کیلو متره مرتع او نفوس یی د اسیا لوي وچی د نفوسو دریمه برخه جوړوي.
۲۱۲سوال:په اسیا کی څو هیواوادونه مسلمانان او د څو هیواودنو رسمی دین اسلام دي؟
۲۱۲ځواب:په اسیا کي ۲۷ هیوادونه مسلمانان دي چی د هغو څخه ۱۸ هیوادنونه رسمی دین اسلام دي.
۲۱۳سوال: د افریقا د لوي وچه په کومو سیمو کي مسلمانان اوسیږي؟
۲۱۳ځواب:د افریقا لوي وچه په شمال کي اوسیږي.
۲۱۴سوال:د اروپا او امریکا کومی سیمي اسلامی ګڼل کیږي؟
۲۱۴ځواب:د اروپا په لویه وچه کی د البانی، بوسنی او هرزالونی او په امریکا کی د سورینام په دواړو لوي وچو کي سیمی ګڼل کیږي .
۲۱۵سوال:۲۰۰۰ م کال د احصایه له مخی په څومره هیوادونو کي د یو نه تر ۱ــــ ۳۸ سلنی پوري مسلمانان ژوند کوي؟
۲۱۵ځواب:۲۰۰۰م کال د احصایه له مخي ۶۳ نور هیوادونو کي هم له ۱ــــ ۳۸ سلنی پوري مسلمانان ژوند کوي.
۲۱۶سوال: اسلامي هیوادونه ولی د استعمار ګرانو وړ ګرځیدلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱۶ځواب: اسلامي زيات هيوادنه د طبيعي منابعو له مخې لکه نفت، طبيعي ګاز، د ډېرو سکاره، مس ربړ او داسې نورو له پلوه ډېر شتمن دي دنړۍ په 65,5 سلانه د نفتو زيرمي د فارس په خليج ( په عربخليج ) کي پرتې دي د همدغو سرچينو د شتون له مخې د نړۍ د استعمار ګرانو د پارم وړګرځيدلي دي.

## مسحيت دين

۲۱۷سوال: مسحيت دين څه قسم دين دي او په کوم ځاي کي او چا لخوا خلکو ته ورويېژندل شو؟
۲۱۷ځواب: نن عيسويان د توحيد څخه ولي منحرف شوي دي او هم واضح کړي د بنی اسرائيلو وروستی پيغمبر څوک وه؟
۲۱۸سوال: د مسحيت دين د چا په واسطه د کوم کال څخه تر کوم کال پورې رسمي شو او لومړنی کليسا يې د څه په نوم ياديده؟
۲۱۸ځواب:مسحيت دين د کنتاکين په وخت کی له ۳۰۶ ميلادي کلونو کی رسمي شو او کليسا
۲۱۹سوال: د عيسويت مذهب په څو مذهبی فرقو ويشل شويدي د مهمو فرقو نومونه يې وليکئ
۲۱۹ځواب:عيسويت مذهب په ۲۵۰ فرقو ويشل شوي دي مهم فرقو نومونه يې دادی ۱: کاتوليک ۲ارتو دوکس ۳: پروتستانت
۲۲۰سوال:کاتوليک د عقيدي پيروان دياب په اړه څه نظريه لری او ددي عقيدی پيروان په لومړي درجه او دوهم درجه په کومو کومو هيوادونو کی وی؟
۲۲۰ځواب:
۲۲۱سوال:دکوم کال د روم امپراتوری په دوو برخو ويشل شوه چی ورسره کليسا هم په دوو برخو وويشل شوه کومو نومونو؟
۲۲۱ځواب: د روم امپراطوريي په ۴۷۶ميلادي کال کي په دوو ختيځو او لويديځو برخو وويشل شوه، په همې دليل کليسا هم د لويديځ روم په کليسا(کاتوليک) او يوناني ختيځ روم(ارتودوکس) وويشل شوه.
۲۲۲سوال:په کوم کال دوهم خليفه ختيځ روم ته ماتی ورکړه او کومی سيمی ازادي کړي؟
۲۲۲ځواب:د دوهم خليفه حضرت عمر (رض) خلافت په دوره کې ۶۲۶ ميلادي کال کې ختيځ روم ته ما ورکړه او د سوريي او فلسطين سيمي يي ازادي کړی.
۲۲۳سوال:د روم اميرانو دريم
۲۲۳ځواب:
۲۲۴سوال:کاتوليک عقيدي او ارتو دوکس عقيدي ترمنځ فرق څه شی؟
۲۲۴ځواب:
۲۲۵سوال:د پروتستانت د عقيدي په اړه معلومات وليکئ؟
۲۲۵ځواب:

## د تائوييزم او شينتوييزم اينونه په هکله څه پوهيږي

۲۲۶سوال:د تائوييزم د آيين معنا څه ده په کوم هيواد کي د چا لخوا رامنځته شو د رامنځته کيدو په اړه يی معلومات وليکئ؟
۲۲۶ځواب: ۲۲۷سوال:د تائوييزم د آيين پيروان په کوم هيواد کی استوګن دي او د چا لخوا رسمی دين شوه؟
۲۲۷ځواب: د چين قوم او ملت په دغي عقيدې ولاړ دی د تائوييزم آيين په ۱۶۵ ميلادي کال کي د هوان له خواد هان د لړۍ خاقان په واسطه رسمي شو.
۲۲۸سوال:شينتويزم ددي دين معنی څه ده دغه آيين په کوم هيواد کي پيروان لري دا دين د کومو دينونو د اغيزي لاندي راغلي او اوسني بڼه څه قسم ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲۸ځواب: شینتویزم په لغت کي ( خدایانو د لارې ) په معنادی او چاپان د خلکو ایین دي چي وروسته یې د کنفسیوس او بوداي آینونو د اغیزو لاندې تحول وکړ او سنی بنه یې اداب، عنعنات، د مقدسو ځایو زیارتو جشنونه او عمومي اخترونه دی.
۲۲۹سوال:د شینتوییزم د ایین له مخي د جاپانیانو نظر د خپل هیواد په باره کي بیان کړي؟
۲۲۹ځواب: د جاپانیان باور لری چي له جاپانیانو څخه پرته نور باید په دي هیواد کي ژوند ونه کړي او جاپانیان هم باید په بل ځاي کي مړه نشي جاپانیان خپله خاوره سیمه الهي هیواد بولی اونور هیوادونه ددي ځانګړتیاو لرونکي نه ګڼي.

## بودائی او هندوییزم آیینونه

۲۳۰سوال:د بودائی آیین بنسټ اینودونکی څوک وو چیرته رامنځته شو مقدس کتاب یی څه نومیږي او مقدس ښارونه چیرته او څه نومیږي؟
۲۳۰ځواب: بوادائی آیین بنسټ اینودونکي سیدارتا په نوم یو شهزاده و مقدس کتاب یي تری پتیکا (درې ټوکرې ګل)مقدس ښارونه یي په هندکي بنارس او په تبت کي لهاسادي.
۲۳۱سوال:بودائی آیین په کومو هیوادونو کي پیروان لري او په کومو هیوادونو کي رسمي دین دي؟
۲۳۱ځواب:دغه آیین په کامبوج، بوتان او تایلینډ په هیوادنو کي رسمیت لري دغه ایین په هند، جاپان، چین، مغلستان، تبت، برما، کامبوج تایلینډ بوتان او نړی په نورو سیمو کي ژوند کوي.

## هندوییزم

۲۳۲سوال:د هندوییزم دین په کوم کال کي رواج درلود؟
۲۳۲ځواب:هندوییزم ۱۵۰۰ میلادی کال یه شاوخواکي یی په هندوستان کي رواج درلوده.
۲۳۳سوال:د هندوییزم په ایین کي د روخ تناسخ په کومه معنا کارول کیږي؟
۲۳۳ځواب: د دي دین پیروان په دي عقیده وو او ویل به یي چي بنه انسان مر شي روح یي بنه سري ته ورځي او که بد سړي مر شي روح یي بد سړي له ځي اکثروبه ویل چي بد انسان روح حیواناتو ته ځي.
۲۳۴سوال:د هندوییزم په ایین کي خلک په څو خدایانو باورلري او دي خدایانو ته یی کومي وظیفی وسپارلي؟
۲۳۴ځواب: هندوییزم ایین دري خدایان لري ۱: برهما( دموجوداتو خالق) ۲: ویشنو( دموجوداتو د ساتني خداي) ۳: شیوا( د موجوداتو د له منځه وړلو خدای).
۲۳۵سوال:هندوییزم آیین مقدس کتاب څه نومیږي او په کومه ژبه لیکل شوي؟
۲۳۵ځواب: هندوییزم ایین مقدس کتاب ویدا( د برهمنیانو ودا vda نوم لري او په سانسکریت په ژبه لیکل شوي.
۲۳۶سوال:د هندوییزم په ایین کي د خلکو څو طبقي شته نومونه یی ولیکئ؟
۲۳۶ځواب: د هندوییزم کي برهمنانو، ویشیا، کشتریا او شودرا طبقي شته.

## د نړی مهمي ژبي

۲۳۷سوال:ژبه تغریف کړي او ژبه څنګه منځته راغلي؟
۲۳۷ځواب: ژبه د پوهولو او راپوهولو( افهام او تفهیم) وسیله اد د علایمو سیستم دي چي د پوهي د انتقال او حاصلولو، معاشرې او د خلکو د تفاهم له پاره کارول کیږی.
۲۳۸سوال:اندو اروپایي ژبه کي کومي ژبي شاملي دي نومونه یی ولیکئ؟
۲۳۸ځواب: اندو اروپایي ژبه کی په بیلابیلو څانګو( لاتین، بالتیک، سلاویک، جرمانیک، اریک او ارمني) ویشل شویده.
۲۳۹سوال:په نیګرو په ژبه کي کومي ژبي شاملي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳۹ځواب: په نیګرو ژبه کي دوه ژبي شاملي دي ۱: د سوډان په جنوب، د چاډ په جمهوریت ،نایجریا او د افریقا په استوایي هیوادونوک ي خلک په دي ژبي خبرې کوي.۲: د بانتوژبه: د کانګو، زمبیا او انګولا د حوزي خلک پری خکبرې کوي.
۲۴۰سوال:په حامي اوسامي ژبو باندي د کومو هیوادونو خلک خبرې کوي؟
۲۴۰ځواب: په حامي ژبه باندي په حبشه، الجزایر، نایجر او دسنیګال په یوه برخه کي خلک پرې خبرې کوي. او سامي د عربستان په ټاپو وزمه ، د مصر په عربی جمهوریت ولیبیا لجزایر، مالي او په مراکش کي مروجه ده.
۲۴۱سوال:په التایي او اورالي ژبه کي کومي ژبي شاملي دي او د کومو هیوادونو خلک پري خبري کوي؟
۲۴۱ځواب: په التاییي او اورالي پڑبو کیي لاندي پنځه ژبي شاملي دي: ۱: د فن ېّ ژبه د لپ، فنلنډ، اویستاک او د اروپایي روسیې شمالی خلک پرې خبرې کوی. ۲: ترکي: په ترکیه، ترکمنستان، ازبکستان، قزاقستان، قرغزستان، چین او افغانستان کي پرې خبرې کوي. ۳: منګولیایي: په منګولیا مغلستان او چین په شمال کي خلک پري خبري کويٍ. ۴: د توګوس ژبه: د سایبریا په شمال کې په تیره بیا د تایګا او تندا سیمو کې مروجه ده.۵ : جاپاني او کوریایي ژبه: د جاپان په ټاپوګانواو د کوریا په ټاپو وزمه کې خلک پرې خبرې کوي.
۲۴۲سوال:د پورتنیو ژبو نه په غیر نورې کومي ژبي دي چي د مختلفو سیمو خلک پري خبري کوي؟
۲۴۲ځواب: نوري ژبي په لاندي ډول دي: ۱ : مالیزیایي او پولنزیایي ژبه د جاوا، سوماتراپه ټاپوګانو، د کمبودیا په یوه برخه او د بورنیو په ټاپو ګانو کي رواج لري.ی۲: د امریکا اصلي او بومي ژبه د امازون په حوزه کي مروجه ده. ۳: د دراویدن ژبه: د هند په جنوب کي او د سریلاتکا په یوه برخه کې رواج لري.۴: چیني ژبه د یوې کتلي په توګه د چین په هیواد کي رواج لري.
۲۴۳سوال:ماندراتي ژبه باندي په ټوله نړۍ کي څومره خلک خبري کوي او دنړۍ څومره برخه خلک جوړوي؟
۲۴۳ځواب: ماندراتي ژبه د ختیځي آسیا له ډیرو معروفو ژبو څخه ده د نړۍ پنځمه برخه خلک یا تقریباً ۸۵۳میلیونه
۲۴۴سوال:انګلیسي ژبه په څو هیوادونو کي رسمي ژبه ده؟
۲۴۴ځواب:انګلیسي ژبه په ۵۰ هیوادونو کي رسمي ژبه ده.
۲۴۵سوال:عربي ژبه په څو هیوادونو کي رسمي ژبه ده؟
۲۴۵ځواب: عربي ژبه په ۲۲ هیوادونو کي رسمي ژبه ده.

## عربي ژبه

۲۴۶سوال:عربي ژبه نړۍ کي څنګه خپره شوه او ولي ځانګړي ارزښت لري؟
۲۴۶ځواب:عربي ژبه د نړۍ د مسلمانانو د مقدس کتاب ژبه ده نو له همدې امله ځانګړي ارزښت لري.
۲۴۷سوال:څه وخت د عربي ژبی د زده کړي د قواعدو تدوین او وضعه کولو ته اړتیا پیښه شوه؟
۲۴۷ځواب: هغه وخت د عربی ژبي زده کړي د قواعدو تدوین او وضع کولو ته اړتیا پیښه شوه چي د اسلام دین غیر عرب هیوادونو او قومونو ته ورسیده او هغه هیوادونه او قومونه د عربي ژبې حوزې ته ورننوتل او په دوامدار ډول یو بل ته نژدې شول.
۲۴۸سوال:د عربي ژبه زده کړه د کومو هدفونو په خاطر وه واضح کړي؟
۲۴۸ځواب: د عربي ژبه زده کړه دوه هدفونه لري ۱: په قرآن نبوي احادیثو او نورو شرعي حکمونو باندي د آسانه پوهیدلو له پاره ۲: دنورو ژبو له تصرف څخه د عربي ژبي ساتنه.
۲۴۹سوال:د عربي ژبې اصطلاحات تر اوسه د ژوند په کومو برخو او کومو علوم کي کارول کیږي؟
۲۴۹ځواب:تر اوسه د عربي ژبی اصطلاحات د ادبي، نظامي، تجارتي، بیړی چلوني، ستورو پیژندني او علومو په کیمیا، ریاضي، بیالوژي، طب او درمل جوړولو کي کارول کیږي.
۲۵۰سوال:هغه هیوادونه چي رسمي ژبه یی عربی ده څو په اسیا او څو په افریقاکي دي؟
۲۵۰ځواب: د نړۍ له ۲۲ هیوادونو څخه چي رسمي ژبه یي عربي ده. لس هیوادونه په افریقا او ۱۲ هیوادونه یي په اسیا کي پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## انګیسي ژبه

۲۵۱سوال:انګیسي ژبه د کوم کلونو څخه تر کومو کلو پوري په انګلیند کې یی مروجه ژبه ده او د کومو ژبو د ورګډیدو په نتیجه کي سوچه انګلیسي ژبه منځته راغله؟
۲۵۱ځواب:د ۵۰۰ څخه تر ۱۰۶۶ میلادي کال پورې په انګلیند کې ډیره پخوانی مروجه زبه انګلیسي وه
۲۵۲سوال:په نړی کی د څومره خلکو مورنی ژبه انګلیسي ده او څومره خلکو لپاره او ارتباطی ژبه انګلیسي ده
۲۵۲ځواب: په نړی کي د ۳۳۰ میلیونه ته ریسږي د نړی د ۱۵۷ میلیونو نورنفوسو لپاره دویمه ارتباطی ژبه ده.
۲۵۳سوال:د هغه هیوادونو له جملی څخه چي یو پخوا د انګلیسانو مستعمري وی او اوس ازاد شوي د هغي هیوادونو له جملي څخه د څومره هیوادونو دوهمه رسمی ژبه انګیسي ده؟
۲۵۳ځواب: ۴۹ مستعمره
۲۵۴سوال:انګلیسي ژبه ولي د نړیوالی ژبی په توګه منل شوي ده؟
۲۵۴ځواب: دانګلیسي ژبي زده کړه دیوې نړیوالي ژبي په توګه دنړیوال تفاهم سربیره په جعرافیه او نورو علومو کې د معلوماتي منابعو اومعتبرو ماخذونو په توګه په انترنیت، کتابونو او مجلو کې له انګلیسي څخه ګټه اخلي.

## لاتیني ژبه( فرانسوي، اسپانوي او پرتګالي)

۲۵۵سوال:رومي( لاتینی) ژبه د کومي ژبی له کورنۍ څخه ده او دا ژبه په کومو مخلي لهجو تبدیله شویده؟
۲۵۵ځواب: رومي ژبه د ایتالیایانو پخوناني ژبه د اندو اروپایی ژبو د کورنۍ له ډلي څخه ده . او په محلي لهجو تبدیله شوه لکه د اسپانیي، پرتګالي او فارنسي او په ختیځ کي او ارومانیي او البانیي د خلکو ژبی د بیلګي تو ګه یادولای شو.
۲۵۶سوال:فرانسی، اسپاني او پرتګال څنګه وکولاي شول چی دخلپي ژبې په نورو هیوادو کي مورجي کړي چي اوس په هغي هیوادو کي رسمي ژبی دي؟
۲۵۶ځواب: فرانسوي ، اسپانوي او پرتګالي ژبي د ژوندیو ژبون له ډلي څخه دي چي د استعمار او نورو لاملونوله مخي دژبي د اصلیي ویونکوو له حوزې څخه د باندې يي رواج وموندە او پراخ ګرامر لري.
۲۵۷سوال:اوس فرانسوي اسپانوي او پرتګالي ژبه د نړي په څو څو هیوادونو کي رسمي ژبی دي ولیکئ؟
۲۵۷ځواب: فرانسوي ژبه د نړی په ۲۶ هیوادونو کې، اسپانوي ژبه د نړۍ په ۱۹ هیوادونو کې پرتګالي ژبه د نړی په ۶ هیوادونو کی رسمي ژبی دي او په ځیني هیوادونوکي رسمي ژبه ده.

## جرمني ژبه

۲۵۸سوال:جرمني ژبه د کومي ژبي له ډلي څخه ده دا ژبه په څو ډلو ویشل شوي او په هره برخه یي د کومو هیوادونو خلک خبري کوي؟
۲۵۸ځواب: جرمني ژبه د اندو اروپایي ژبو له ډلي څخه ده
۲۵۹سوال: جرمني ژبه په څو محلي لهجو ویشل شوي ده ولیکئ؟
۲۵۹ځواب:جرمني ژبه په دوو محلي لهجو ویشل شوي ۱: د لوړو سیمو جرمني ژبه ۲: د اوارو سیمو جرمني ژبه.
۲۶۰سوال:په غیر ده جرمی څخه نور په کومو هیوادونو کي جرمني ژبه رسمي ژبه ده ولیکئ؟
۲۶۰ځواب: په غیر ده جرمنی څخه په اطریش، لختین شتین اوسویس( المانی، فرانسوي او ایتالوي رسمي ژبي دی

## د چینایي، جاپاني، او اندونزیایي ژبو په باره کې څه پوهیږئ؟

۲۶۱سوال: یو سیلابه ژبو کي کومي ژبی شاملي ولیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۶۱ځواب: په يو سيلابه کي چينايي ماندرين ژبه لکه د ويتنامي (انامي) تبتي، تايلنډي او ميانماري(برمايي) ژبو په څير د ژبپوهني د اصطلاح له مخې يو هيجايي (يو سيلابه) ژبو دي.
۲۶۲سوال: چينايي ژبه د الفبا څو توري لري په دي ژبه باندي د آسيا لويي وچي څومره خلک خبري کوي؟
۲۶۲ځواب: چينايي ژبه د الفبا توري څلورسوه ۴۰۰ لري
۲۶۳سوال:په څو سيلابه ژبنی ډله کی کومي ژبی شاملي دي نومونه وليکئ؟
۲۶۳ځواب: په څو سيلاته ژبنی ډله کي کوريايي، جاپاني، د سايبريا د خلکو زياته برخه، منځنی آسيا د راويدي او هندي ژبی شاملی دي.
۲۶۴سوال:اندونزيايي ژبه په کوم کال د اندونزيا ملی ژبه وټاکل شوه؟
۲۶۴ځواب: په ۱۹۲۸ ميلادي کال کي د ملی ژبه په توګه وټاکل شوه د وخت په تيريدو د عربي، چيني، هالنډی، پرتګالي، سانسکريتي،تاميلي، فرانسوي او انګليسي ژبی کلمي په ژبي کي شاملي شوي دي د بيلګي په توګه په دي ژبی کي تقريباً د هالنډي ژبی ۷۰۰۰ کلمي شته دي.

## د بالتيک – ليتواني او سلاوي ژبي

۲۶۵سوال:سلاوي ژبه د کومي ژبنی لويه کورنی څانګه ده او هم واضع کړي چي سلاوي ژبه د اروپا په کومه برخه کی زيات ويوونکي لري؟
۲۶۵ځواب: سلاوي ژبه د هندو اروپايي ژبو له څانګو څخه ده چي په ختيځه اروپا او د بالکان په نورو سلاوي هيوادونو کي مروجه ده.
۲۶۶سوال:سلاوي ژبه په کومو لهجو ويشل شوی نومونه يي وليکئ او ليتواني ژبه د کومي کورنی څانګه ده؟
۲۶۶ځواب: سلاوي ژبه په څو محلي لهجو هم ويشل کيري، چي د هنګري او بالکان يو څه خلک او همدارنګه چکيان، سلواکيان پولنډيان، سربيان، بوسنيان،کرواتيان، بلغريايان او د مقدونيي خلک په هغي خبري کوی او ليتواني ژبه هم د سلاوي ژبي د کورنی څانګه ګڼلک کيري.

## هندي او اردو ژبي

۲۶۷سوال: هندي د کوم هيواد اوردو او بنګالي د کومو هيواددنو رسمي ژبي دي وليکئ؟
۲۶۷ځواب: هندي ژبه د هند اصلي ژبه ده او اردو د پاکستان او بنګالي د بنګله ديش رسمي ژبه ده.
۲۶۸سوال:اردو ژبي ته د اردو نوم د چا لخوا ورکړل شو؟
۲۶۸ځواب: شاه جهان چي د ظهرالدين بابر لمسی چي د هند د مغلانو په نوم هم ياديږي.
۲۶۹سوال:اردو ژبه د کومو ژبو څخه منځته راغلي ده وليکئ؟
۲۶۹ځواب:د اردو ژبه د پخوانی فارسي، ترکي او هندی ژبو څخه جوړه شوي ده.

## اړيکي او نړيوال کيدنه

۲۷۰سوال:هغه کوم وسايل دي چي د نړی ئي سره نږدي کړي ده؟
۲۷۰ځواب: لکه مخابرات ، په تيره بيا هغه معلومات چي د مصنوعيي سپوږمکيو، رادار او انترنيټ او داسي نوور څخه لاس ته راځي، نړی ی له پخوا څخه ډيره نژدي کړی ده.
۲۷۱سوال: کوم وسايلو د د هيوادونو د نژدي کول لپاره زمينه برابره کړي ده مثال سره يی واضح کړي؟
۲۷۱ځواب: د ارتباطي او اطلاعاتي وسيلو چټکه وده لکه فکسو کمپيوټر ، انټرنيټو تيلفون، تلويژيون او داسيي نورو د هيوادونو د نژدي کول و لپاره ژمينه برابره ککړې ده مثال په ډول که چيرې د وارداتي مالنو وارد وونکي د وګواړي له جاپان څخه زيات سوداګريز مالونه او کالي نيو يارک او دوبی ته وارد کړي وارد وونکي د انترنيټ په مرسته د داړوند و کمپنيو څخه د مالونو د ليږدولو غوښتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اړيکو غوره وسيلي

۲۷۲سوال: د اړيکو لومړني وسيلي کومي وي او اوس د اړيکو مهمي وسيلي کومي دي نومونه يې وليکئ؟
۲۷۲ځواب:
۲۷۳س-وال: telecommunicationتيلی کمونيکشن په باره کي اختراعګانو د نړي ځيره ځنګه بدله ده؟
۲۷۳ځواب: د اړيکو پرمختګونه يا telecommunication لکه رادار، تيلفونونه، موبايل، انټرنيټ، فکس او د نړی د ېپوږمکيو سيستمونه د نړی هيوادنه يو بل ته نژدې کړي او هغه واټن چې د نړی د هيوادونو ترمنځ موجود و له منځه لاړ.
۲۷۴سوال: د مصنوعي سپوږمکيو کي د پرمختللو کمرو نسبولو سره انسانانو ته کوم معلومات ورپه برخه شول؟
۲۷۴ځواب: په مصنوعي سپوږميو کي د پرمختللو کمرو نصبول د ځمکي د کړي او سمندرو په باره کي د ځينو حقيقتونو د روښانه کول سبب شوي دي او نوي موضوعګاني يې د ځنګلونو، کانونو، سمندرونو او د ژوندانه د چاپيريال په هکله سپړلي دي.
۲۷۵سوال:د اړيکو عمده وسيلو پرمختګ د انسانانو د ژوندانه په ټوله موده کي څو برخي لري هر برخه يې واضح کړي؟
۲۷۵ځواب:دوه برخي لري: ۱: لومړي وسيلي: لکه اوتونکي (هدهد او کوترې)او اهلي حيوانات لکه آس، اوښ، خر، قاطر.
۲: عصري وسيلي: لکه د ميديا د اړيکو وسيلي(راديو چې منځنی ، لنډې، اوږدي او FM څپې لري) تلويزيون، موبايل، کمپيوټر، انټرنيټ، مصنوعي سپوږمی چي پاس ورځخه يادونه وشوه.

## پست په نړی کي

۲۷۶سوال: په پخوا زمانه کي چين، مصر، يونان، او پخواني روم د پستي خدمتونو په برخه کي د څه شی څخه کار واخيست او هم واضح کړې چي په اړيکو کي څه وده رامنځ ته شوه؟
۲۷۶ځواب: په پخوا زمانه کي چين ، مصر، يونان ، او پخواني روم په امپراتوري کي له حيواناتو او الوتونکو څخه په ګټه اخيستنه ليکونه او پيغامونه انتقاليدل کله چي په اقتصاد کي مختلف شغولونه منځته راغلل نو د پُستي خدمتونو په واسطه يي خپلي اړتياوي يي د اړيکو په برخه کي پوره کولي.
۱۷۸سوال: پستي خدمتونه لومړی د چا پواسطه منځته راغلل او هم واضح کړی چي په څوم کال د چا لخوا پستي ټيکټونه رامنځته شول؟
۱۷۸ځواب: په شپاړسمي ميلادي پيړی کي پُست د هيوادونو له سرحدونو څخه بهر شو او د فرانسوا تاکسي په همت لوړي ځل لپاره پُستي خدمتونه رامنځته شو ل او په اروپا کي وده زياته شوه او په ۱۸ مي پيړی کي پُستي ساحه پراخه شوه او ويي کولای شول چي د اړيکو د يوې باوري وسيلي په توګه خلکو ته وسپارل شو.
۱۷۹سوال: د پوسټ اتحاديه د څو غړو هيوادنو لخوا په کوم کال جوړه شوه او په ۱۹۹۶م کال ددې اتحادې غړي هيوادنه څو ته رسيده؟
۱۷۹ځواب: وروسته د ۱۸۷۴ميلادي کا ل د ستمبر په ۱۵ نيټه د ۲۱ غړو هيوادونو تر منځ د کنفرانس په پايله کي پريکړه چي د برن د معاهدې په نوم ياديږي لاسليک شوه په ۱۹۹۶ميلادي کال کي د دې اتحاديه غړو شمير ۱۸۹ هيوادنوته ته رسيږي.

## په نړی کي تيلفون او موبايل

۲۰۰سوال: د تيلفون او موبايل حخه په کومو برخوکي کار اخيستل کيږي او هم واضح کړي چي د تيلفون مختر ع څوک و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۰ځواب:د ټيلفون او موبايل څخه په په ډله ييزو رسنيو کي د اړيکو ډيره مهمه برخه لري او له هغو څخه په جغرفيايي مسايلو کي د اړيکو د نيولو په برخه کي د يوي وسيلي په توګه ګټه اخيستل کيږي لکه: آب وهوا، زلزلي اورلګيدني، د سوداګريزو او اقتصادي معلوماتو په برخه کي کار اخيستل کيږي.او لومړي ځل لپاره ګرام هام بل gram ham bill اختراع کړ.

۲۰۱سوال: بي سيمه ټيلفون په کوم کال اختراع شو او هم واضح کړي چي بي سيمه ټيلفون چي لاتين نوم يي سيلولر دي کوم ډول پرمختللي ټيلفون دي؟

۲۰۱ځواب: بي سيمه ټيلفون په ۱۸۹۷ميلادي کي اختراع شو بي سيمه ټيلفون چي لاتين نوم يي سيلولر دي هغه ډول پرمختللي ټيلفون ته ويل کيږي چي د دوه تنو ترمنځ اړيکي ټينګوي او هر ځای ته د انتقال وړ وي .

۲۰۲سوال:ملګرو ملتونو په کوم کال بي پري مخابراتو مرکز جوړ کړ؟

۲۰۲ځواب: ملګرو ملتونو په ۱۹۷۰ميلادي کال کي مخابراتو مرکز جوړ کړ.

## فکس په نړی کي

۲۰۳سوال:فکس څه شي دي او په کومو برخو کي يي اسانتياوي رامنځ ته کړي؟

۲۰۳ځواب: فکس د جغرافيي په ټولو ځانګو کي يوله مهمو اړتياوو څخه يوه له فکس څخه ګټه اخيستنه ده چي د هغي پواسطه پيغامونه ليږي او نژدې سيموته استول کيږي له فکس څخه ګټي اخيستني د اړتياوړ حقيقتونو د مستند کولو لپاره په جغرافي او نوروو برخ کي ډيري آسانتياوې رامنځته کړي دي لکه صنعت سوداګرۍ توليدي وسايل صادرات واردات او داسي نور.

۲۰۴سوال:فکس د چا لخوا اختراع شو او لومړي پيغام يي دکوم ځاي څخه کوم ځاي ته واستاوه؟

۲۰۴ځواب: فکس نوی تکنالوژي ده چي په ۱۹۲۴ميلادي کال کي د ريچارد رنجر Rechard H Ringer پواسطه اختراع شو او لومړنی پيغام يي له نيويارک څخه لندن ته واستوه .

۲۰۵سوال:فکس په کومه طريقه پيغامونه له يو ځاي څخه بل ځای ته انتقالوي او په کومو برخو کي ورڅخه کار اخيستل کيږي؟

۲۰۵ځواب: فکس د ليکلي پيغام د انتقال وسيله ده چي د کاغذپرمخ ليکلي پيغامونه او ګذار شونه دې ماشين ته ننه باسي او په څو ثانيو کي ټاکلي ځاي ته رسيږي.

فکس ميخانيکي وسيله ده چي د هغي پواسطه اطلاعات او اسناد په ليکلي ډول د يوه سند په توګه انتقاليږي.

## انترنيټ او ايميل

۲۰۶سوال:د مخابراتو ډيره نوي وسيله څه شي ده او څه کي ورڅخه کار اخيستل کيږي؟

۲۰۶ځواب:د مخابراتو ډيره نوي وسيله انترنيټ او ايميل دی، چي په جغرافيي او ورو علومو او د ژوندانه په نورو برخو کي ځانګړې دندې سرته رسوي. جغرافيه پوهان ړد ځيرنو په ټولو مرکزونو کي د پيغامونو د انتقال لپاره له دواړو ويسلو څخه ګټه اخلي له ټولو مهمه خبره داده چي د پيغامونو اخيستل او په ځانګړي او محرمانه ډول دهغي ليږل په هره انازه چي د وغوړو، په لند وخت کي سرته رسيږي له دواړو ويسيلو څخه ګټه اخيستنه په ټولو دولتي سوداګريزو موسسسو او شخصي ډول سرته رسيږي.

۲۰۷سوال: انترنيټ څه شي دي او کوم خدمتونه سرته رسوي؟

۲۰۷ځواب:

۲۰۸سوال:چيرته او د چا لخوا په کوم کال يو کوچني ماشين جوړ شو چی د يو کمپيو تر څخه بل کمپيوتر ته معلومات انتقالول؟

۲۰۸ځواب:

۲۰۹سوال:ايميل څه شی دي او په کومو برخو کي تري کار اخيستل کيږي؟

۲۰۹ځواب:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱۰سوال:مصنوعي سپوږمکيو جغرافيه پوهانو ته کومي وړتياوي وړپه برخه کړيدي؟
۲۱۰ځواب:
۲۱۱سوال:هغه پيغامونه چي دمصنوعي سپوږمکي څخه ځمکي ته رسيږي د څه په نوم ياديږي او هغه پيغامونه چي د ځمکي څخه مصنوعي سپوږمی ته استول کيږي د څه په نوم ياديږي.
۲۱۱ځواب:
۲۱۲سوال:جيو ستشنري اصطلاح کوم خالت ته ويل کيږي تشريح يي کړي؟
۲۱۲ځواب:
۲۱۳سوال:کوم هيوادونه مصنوعي سپوږمکي لري نومونه يي وليکئ؟
۲۱۳ځواب:

## د ژوندانه چاپيريال نړيوالې ستونزي

۲۱۴سوال:د ژوندانه چاپيريال تعريف کړي د ژوندانه چاپيريال مهمي برخي کومي دي؟
۲۱۴ځواب: د ژوندانه چاپيريال د ژوندانه د تولو پديدو يوه ټولګه complexده چي انسان حيوان او نبات لپاره يي د ژوندانه شرايط برابر کړي دي مهمي برخي يي ځمکه، د استوګني ځاي خاوره او په نباتي پوښښ حيوانات او اتموسفير تشکيلوي.
۲۱۵سوال: دکرنی او خوړو د برابرولو مناسبي سيمي کومي دي او د کرني او خوړو د برابرولو نامناسبي سيمي کومي دي؟
۲۱۵ځواب:
۲۱۶سوال:د هغو شيانو نومونه وليکئ چي اتموسفير ککړوي او د انسان حيوان او نبات ژوند له خطر سره مخ کوي؟
۲۱۶ځواب:
۲۱۷سوال: د هغه ګازونو او اکسايډونو نومونه وليکي چي دويني دوران او تنفسي جهاز او نورو باندي ناوړه اغيزه لري؟
۲۱۷ځواب:هغه ګازونه کاربن ډاي اکسايد او کاربو مونو اکسايد د متان غاز کلوروفلوروکاربن او دنايتروجن اکسايد تعاملات دويني په دوران، او تنفسي جهاز او نورو باندي روغتيايي ناوړه اغيزه لري .
۲۱۸سوال:د هغو موادو نومونه وليکي چي په مجموعي ډول د هوا د ککړتيا سبب ګرځي؟
۲۱۸ځواب:په لاندي ډول دي:
۱: زهري مواد ۲: کيمياوي مواد ۳: د غړونو خپريدل ۴: د اضافي غير صحي مواد راتوليدل
۵: د مصنوعي او اتومي مواد و پاتي شوني ۶: دمضرو اجسامو له راتوليدل ۷ : سوځيدني
۸: دمناسب کانا ليزسيون نه شتون او داسي نور

## د وړلو راوړل(حمل ونقل) وسيلي

۲۱۹سوال: نقليه وسايل د څه شي لپاره پکاريږي او کومي ستونزې رامنځته کوي؟
۲۱۹ځواب: نقليه وسايل د انسان له اړتياوو څخه ګڼل کيږي چي د کاليو او خلکو په انتقال کي ډيري اسانتياوي برابروي خو دلته نقليه وسايل په ښاورنوکي د هوا د ککړتيا د لامل په توګه څيرل کيږي.
۲۲۰سوال:هغه لاملونه چي دککړتيا سبب ګرځي په څه نوم ياديږي او هم واضح کړي چي پرمختللو هيوادونو څنګه د هوا دککړتيا مخه نيولې ده؟
۲۲۰ځواب:هغه لامل چي دچاپيريال دککړتيا سبب ګرځي د پوليشن pollutionپه نوم ياديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرمختللي هيوادونه په دې توانيدلي دي چي تريوي اندازې  د نقليه وسيلو د مضرو موادو مخهونيسي څکه چي پدي هيواد ونو نوي تکنالوژي  او د نقليې ښې وسيلي ددې سبب شوي دي چي دمضرو غازونو مخه ونيول شي هغه نقليه وسيلي چي د لوګي او غازونو لامل ګرځي اجازه نه ورکول کيږي چي تګ او راتګ وکړي.
۲۲۱سوال: زمونږ د ګران هيواد افغانستان مرکز کابل فضاء د څه په واسطه ککړه شويده؟
۲۲۱ځواب: زمونږ د ګران هيواد افغانستان مرکز کابل دښار د ښکلي فضا مضرو غازونو او د زړو موټرو لوګيو او د بي کيفيته تيلو په استعمال سره چي په هواکي د سلفرو او سرپو د زياتوالي سبب کيږي خرابه کړي ده.

## د ژونديه چاپيريال باندی دکارخانو اغيزې

۲۲۲سوال:په پراخه پيمانه د کارخانو څه مشکلات رامنځته کړي او هم واضح کړي چي د صنعتي انقلاب زانګو کوم هيواد دي؟
۲۲۲ځواب:د کارخانو پراخه پيمانه جوړول د هوا، د ځمکي د روانو او د ځمکي لاندي اوبو د ککړول لامل ګرځي. صنعتي انقلاب له اروپا څخه پيل شو او اصلي زانګويي دانګلستان هيواد دي.
۲۲۳سوال:کوم ګازونه د هوا فزيکي او کيمياوي خواصو ته تغير ورکوي نومونه يې وليکئ او دا ګازونه څنګه پيداکيږي؟
۲۲۳ځواب: لکه د کاربن ډای اکسايد $co_2$ د متان$CH_4$ کلورو فلورو کاربن choloro fluoro carbonغاز کې کيمياوي او سروونکو سرچينو څخه خارجيږي چي د هوا په لوړو پوړيو کې د اوزون په قشر کې کيمياوي ترکيبونو سره تعامل کوي د اوزون طبقي ويجاړوي اوپاي کې د ځمکي د توديدو سبب ګرځي.
۲۲۴سوال:اتومي کارخانو راديواکتيف د کومو ستونزو لامل ګرځي او هم واضح کړی چي د اوزون طبقه د کومو ګازونو په واسطه تخريبيږي؟
۲۲۴ځواب:اتومي کارخانی راديو اکتيف radioactive wasterپاتي شوني د لاندنيو ستونزو لامل ګرځي.
۱: اتومي وړانګي(تشعشعات) د يو کيلو متره مربع په ساحه کې تخريبات کوي.
۲: په کرنه، کښت اوکار منفي اغيز لري.
۳: فضاته داخليږي
۴: حيوانات، انسانان او نباتان په مرګ تهديدوي.
۵: د جرنوبل اتومي چاودني چي پراخه ساحه له منځه يوړه ددې مطلب ښه بيلګه ده.
۶: د کاربن ډاي اکسايد د غاز د توليد سبب ګرځي.
۷د پوستکي سرطان رامنځته کوي.
۸: د خوړ مواد تاسيسات اغيزمن کوي.
د اوزون طبقه د کلکوروفلورو کاربن چي له فابريکو او سرونکو سرچينو څخه خارجيږي چي د هوا په بوړو بوړوکي او د اوزن په قشر کی کيمياوي ترکيبونو سره تعامل کوي پدي اساس د اوزون طبقه ويجاړوي.

## د صنعتي موادو پاتي شوني

۲۲۵سوال:د چاپيريال د پاک ساتلو په خاطر بايد  څه وشي چي هوا ککړه نه شي؟
۲۲۵ځواب: : د ژوندانه ځای په  مجموع کې پاک وساتو نو له همدې امله هغه صنعتي پاتي شوني  چي کار خاني او صنايع توليدوي د هغو د ضرر مخنيوي وشي چي چاپيريال ککړنشي.
۲۲۶سوال:پاتي شوني په کومو برخو ويشل شويدي شماره واز يي وليکي او د هر په اړه لنډ لنډ معلومات وليکئ؟
۲۲۶ځواب: : د چاپيريال د پاک ساتلو لپاره بايد لاندي نقطي په پام کي ونيول شي.
۱:فزيکي پاتي شوني:physical state لاندې برخې لر]: ی کورونو [اڅ شون] ناولڅ اوبه او داسي نور
۲: حياتي غضوي  پاتي شوني

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳: خدماتي سکتورنه: چي ځمکني هوايي او سمندري نقليه وسلي دي.
۴: د خوړو پاتې شوني د ډوډۍ او پخلنځي پاتې شوني.
۶: ښاري پاتې شوني: چيې معمولاً د وروستو مواد و پاتې شوني دمتان غاز توليدوي.او داسی نور ............
۲۲۷سوال:د اروپا کوم سيندونه ډير ککړ دي نومونه يي وليکئ؟
۲۲۷ځواب: اروپا کي تايمز او راين سيندونه صنعتي او کيمياوي فابريکي چي ددې سيندونو په غاړو کې جوړي شوي دي ددي فابريکو اضافي مواد سيندونو ته ځي او حيواناتو د ژوندانه چاپيريال ککړ وي.
۲۲۸سوال:د صنعتي پرمختګونو ګټي او زيانونه کوم دي وليکئ؟
۲۲۸ځواب: صنعتي پرمختګونه که له يوې خوا د انسان د اړتيا وو د پوره کولو په برخه کې ګټور وو. په هغه اندازه يي ځمکه، سمندر او هوا ککړه کړې هم ده.

## د اوزون د طبقي د نرى کيدلو خطرونه

۲۲۹سوال:د اوزون طبقه د سمندر د سطحي څخه څومره لوړه ده او څه اهميت لري؟
۲۲۹ځواب:
۲۳۰سوال: د بنفش څخه اخوا ته وړانګي په څو ډوله دي هر يو يي تشريح کړي؟
۲۳۰ځواب:
۲۳۱سوال: د اوزون د طبقي نرى کيدل او تخريب کيدل کومی ستونزې پيدا کوي؟
۲۳۱ځواب: د اوزون د طبقي نرى کيدل او تخريب کيدل د ځمکي پرمخ ژوند له تهديد سره مخامخ کوي.

## د اوزون د طبقي زيانمن کيدل

۲۳۲سوال: کوم ګازونه د اوزون د طبقي د زيانمن کيدو سبب ګرځي او دا ګازونه د څه شي څخه پيدا کيږي؟
۲۳۲ځواب: ګل خانه يي ګازونه لکه ( کاربن ډاى اکسايد متان غازونه او دنايتروجن اکسايد) او د کلورو فلورو کاربن غاز چي د اوزون د غاز د طبقي د زيانمن کيدلو سبب ګرځي.چي د سړوونکو دستګاوو لکه يخچالونه، ايرکنډيشنو سړوونکی ماشينونو او داسي نورو څخه راوځي.
۲۳۳سوال:ګل خانه يي ګازونه په څه شان د اوزون طبقه تخريبوي او هم واضح کړي چي د لندن د ۱۹۹۵م کال په غونډه کي کوم ګازونو د مخنيوي پريکړه وشوه؟
۲۳۳ځواب: او په ۱۹۹۵ميلادي کال کي د لندن غونډه کي دکلوروفلورو کاربن مخنيوي وشوو چي بايد نور توليد نه شي.
۲۳۴سوال:د اوزون د طبقی تخريب په ځمکه کي دکومو زيانونو سبب ګرځي؟
۲۳۴ځواب:
۲۳۵سوال:کوم چينايي پوه په کوم کال مونډلي چي د جنوبي قطب په برخه کي د اوزون په طبقه کي يو لوي سوري پيدا شوي چي پراخوالي يي ۲۶ ميليونه کيلو متره مربع ته رسيږي؟
۲۳۵ځواب:Van Alanچينايي پوه ومونډله چي په جنوبي قطب کي يو لوي سوري دي چي ۲۶ ميليونه کيلو متره مربع پراخوالي لري.

## د ځنګلونو پريکول

۲۳۶سوال:د فوتو سنتيز عمليه د هوا په پاکوالي کي څه اغيزه لري؟
۲۳۶ځواب: فوتو سنتيز photosynthesis په عمليي نباتات د ريښو په واسطه له ځمکي څخه اوبه او مالګي جذبوی او پاڼو ته يي انتقالوي پاڼه کاربن ډاي اکسايد له هو جذبوي او دلمر دروښنايي په شتون کي کاربو هايدريد توليدي او د ورځي اوکسيجن ازاد وي چي د ژونديو موجوداتو لپاره حياتي ارزښت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳۷سوال:د ځنګلونه د انسان لپاره کومي ګټي لري ويي ليکئ؟

۲۳۷ځواب:ځنګلونه د لاندي ګټه لري د انسان لپاره

۱: د ميوې او نباتاتو ريښي د ځينو انسانانو خواړه جوړوي.

۲: د ونو لرګي په ودانيو، د کور د سامانونو او کاغذ په جوړولو کې استعماليږي.

۳: د ونو سيورى انسان له ډيرې تودوخي څخه ساتي.

۴: ځنګلونه د سيلابونو مخه نيسي ځکه چي باران دونو په پاڼو او څانګو لګيږي او چټکتيايي ورو کوي.

۵د ځنګلونو له حاصلاتو څخه د درملو لپاره ګټه اخلي.

۶: ځنګلونه د تفريح او ساعت تيرى لپاره مناسب ځاي ګڼل کيږي.

۷: د وحشي ژوو د ژوند چاپيريال جوړوي.

۲۳۸سوال:کوم لاملونه د ځنګلونو په له منځه وړلو کي زياته برخه لري؟

۲۳۸ځواب: لاندي لاملونه د ځنګلونو په له منځه وړلو کي زياته برخه لري.

۱: د کورونو جوړول او په نړۍ کې صنعتي پرمختيا

۲: د ځنګلونه تبديلول په کرنيزه ځمکه

۳: اور لګيدني

عطاالرحمن محمدی شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

عطاءالرحمن محمدی شینواری

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**